د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تألیف ریاست

# پښتو

## لسم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۸۸ لمریز

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# پښتو

## لسم ټولګی

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

د چاپ کال:۱۳۸۸ لمریز

# دبیا کتنې کمېټې

## د ژبې او محتوا کمېټه:

_ سید احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار.
_ د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو دیپارټمنټ آمر.
_ د مؤلف مرستیال فیض الله فائېز د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.
_ د سر مؤلف مرستیال سید محمود کارګر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.
_ محمد ګلاب د عالم فیض زاد د لیسې ښوونکی.

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

_ ډاکتر محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.
_ رقیب الله ابراهیمي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د اسلامي تعلیماتو علمي او مسلکي غړی.
_ د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.

# د څارنې کمېټه:

– دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس
– محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تلدریسي مرستیال. غړی.
د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## کمپوز او ډیزاین:

_ صفت الله مومند د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د کمپیوټر دیپارټمنټ غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی څوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام لـه پېل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نـوو پروګرامونو تګلاره پېل کړې ده. د ښوونې او روزنې پـه برخـه کـې او د معارف د نـوي کیـدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چـې تـر تطبیـق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتـابونو د تـالیف ریاسـت تـه دنـده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغاني ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یـې دپـوهنې د زده کوونکـو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پـر ګانه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن لـه پرمختـګ سـره اشـنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخـه چـې رامنځتـه شـوي دي ګټـه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سـولې، هېوادپـالنې، ملـي یـوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخـې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلـو او پیـاوړي کولـو کـې مرسـتې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکـو هېوادونـو او درنـو سـازمانونو (د امریکـا د متحـده ایـالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانـك اویونیـسکو)څخـه چـې دکتـابونو پـه تـالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانـو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر**

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| حمد | ۱ |
| نعت | ۲ |
| نوی کال نوی لوست | ۳ |
| د رڼا په څرک پسې | ۵ |
| د حج قیمت | ۷ |
| لنډۍ | ۸ |
| رحمان بابا | ۱۲ |
| د اوښکو ارزاني | ۱۵ |
| د میرویس نیکه له ویناوو څخه | ۱۷ |
| آزادي | ۲۱ |
| خوشحال خان خټک | ۲۲ |
| چې ورسېږم، نو دمه به کوم | ۲۶ |
| د علم هنر | ۲۷ |
| زده کړه تر څه وخته؟ | ۲۹ |
| د کوهستان شفق | ۳۰ |
| پښتو د پخوانیو شاهانو په دربارونوکې | ۳۲ |
| وطن وایي | ۴۷ |
| قوي او ضعیف | ۴۹ |
| صاحب | ۵۱ |
| حقایق | ۵۲ |
| شمس النهار | ۵۳ |
| معرف معارف | ۵۷ |
| نازو انا | ۵۸ |
| ښځه | ٦۲ |
| ارشاد النسوان | ٦۴ |
| مین او شاعر | ٦٦ |
| د مینې اور | ٦۷ |
| پیر روښان | ٦۸ |
| د عینو کاریز | ۷۲ |
| د یتیم آرزو | ۷۴ |
| زرغونه انا | ۷٦ |
| ریګویدا | ۷۸ |
| د بدیع برخه: د بدیع علم | ۷۹ |
| توشیح | ۷۹ |
| سوال او ځواب | ۸۰ |
| ارسال المثل | ۸۱ |
| کیسۍ (لغز) | ۸۱ |
| معما | ۸۲ |

| سرليک | مخ |
|---|---|
| تجنيس | ۸۳ |
| ناقص، زايد، مرکب | ۸۴ |
| تلميح | ۸۷ |
| طباق | ۸۷ |
| مراعات النظير | ۸۹ |
| حسن تعليل | ۸۹ |
| مبالغه | ۹۱ |
| تکرار حسن | ۹۲ |
| تجاهل العارف | ۹۳ |
| حسن مقطع | ۹۳ |
| د نظم ډولونه | ۹۴ |
| لنډۍ | ۹۴ |
| نيمکۍ يا سروکي | ۹۵ |
| چار بېته | ۹۷ |
| رباعي | ۹۸ |
| بګتۍ | ۹۹ |
| نارې يا غبرونه | ۱۰۰ |
| مشترک نظمونه (غزل) | ۱۰۴ |
| بولـــــه | ۱۰۵ |
| رباعي | ۱۰۷ |
| قطعه | ۱۰۸ |
| مثنوي | ۱۰۸ |
| مستزاد | ۱۱۰ |
| مربع | ۱۱۱ |
| مخمس | ۱۱۲ |
| مسدس | ۱۱۳ |
| ترجيع بند | ۱۱۴ |
| ترکيب بند | ۱۱۶ |
| ملاله | ۱۱۸ |
| د هرات محاصره | ۱۲۰ |
| پيسې سپځل | ۱۲۲ |
| يو پوه وايي | ۱۲۴ |
| وروستی لوست | ۱۲۵ |
| د زمانې نځا | ۱۲۹ |
| زړه غوارمه | ۱۳۰ |
| ړوند او ګوډ | ۱۳۱ |
| کاظم خان شيدا | ۱۳۲ |
| کار او زيار | ۱۳۹ |
| د دغه کتاب ځينې لغتونه | ۱۴۲ |

# حمد

اې د کُل جهان صنیعه! — اې د هر آسمان بدیعه!
کامله قدرت د تا دی — نادره صنعت دتا دی
لوی دیوان دې مرتب کړ — چې انسان دې منتخب کړ
هر ورق یې ګونا ګون دی — هر مضمون یې بوقلمون دی
هره ورځ ورق ګردان یې — مخترع د نوي شان یې
تا له خاورو آدم ساز کړ — تا همراز او تا د مساز کړ
تا مصداق د کرمنا کړ — په هر اسم دې دانا کړ
په وجود له خاکیانو — کړ سجود ملا یکانو
چې په ملك کې دې وجود دی — بهره مند دتا په جود دی
که بې دست و بې پا حوت دی — ستا په خوان کې سیرپه قوت دی
مار هم خپله روزي مومي — ګاه خوړل کا ګاهي شومي
دیده واخلې له عقر به — لقمه ورکړې زما ربه

ستا کرم پاکه سبحانه
مګس نه شړې له خوانه

(کاظم خان شیدا)

# نعت

ترلك زيات پيغمبران دي　　ځوك نبي ځوك مرسلان دي

همه واړه نيك كردار دي　　امتيان دي وفا دار دي

عالمان دې راست ګويان دي　　دوګړو نيك خواهان دي

نه يې نقش نه يې هوا وه　　هره چار يې په رښتيا وه

يا به وحې يا الهام و　　چې يې چا وته كلام و

زيات وكم ويل يې نه كړل　　چې يې كړل واړه يې ښه كړل

محمد په كې افضل دى　　هم آخر دى هم اول دى

ددين كار په ده تمام شو　　خاتمت دده په نام شو

(خوشحال ختټك)

# نوی کال

## نوی لوست

نوی کال په خندا خندا زموږ خوا ته را درومي، موږ هم په خندا خندا خپل نو ی لوست پیل کوو، دا ځکه چې:

نوی کال موږ ته نوې هیلې راوړي او دا هیلې پر موږ د نوي ژوند زیری کوي.

هو! نوي ژوند موږ ته خپله غیږ پرانیستې ده او موږ هم په بیړه د نوي ژوند لار لټوو، خو دا لار یوازې موږ د خپلې پوهې په مرسته موندلای شو.

نو په هره اندازه چې زموږ پوهه زیاتیږي، په همغه اندازه د نوي ژوند غیږې ته ژر رسیږو خو د پوهې زیاتوالی په زده کړې پورې اړه لري، نو ځکه موږ د خپلې زده کړې د لسم کال په نوي لوست پیل کوو او د خپلې پوهې په لارښوونه د نوي ژوند خواته یو بل ګام پر مخ اخلو.

موږ پر مخ ځو، تر شانه ګورو، او ستړیا نه پیژنو، زوړ کال، زړې هیلې او زوړ ژوند هر څه چې وو بیرته لاس ته نه راځي. خو د نوي کال د نوي ژوند نوې هیلې موږ ته هوسیږي، موږ ځو پر مخ ځو.

مور د خپلې زده کړې، خپلې پوهې او خپل افغاني هوډ او تکل په مرسته په خپل لاس د نوي ژوند ور ځان ته پرانېزوو.

خو افسوس دې وي د هغه چا پر حال چې کال نوی شي او دده ژوند لا زوړ وي! یا نوي کال په خپله غېږ کې ورته نوې هیلې راوړې وي، خو ده لا خپلې زړې هیلې سرته نه وي رسولې!

یا ښوونکی ورته د نوي لوست پاڼه لولي، خو دده سترګې لا د زاړه لوست په زړه پاڼه کې وي!

داسې څوك په نوي کال کې داسې ښکارېږي لکه زړه بوډۍ چې د ناوې کالي واغوندي!

خو هغه زړه بوډۍ که په هېنداره کې ځانته وګوري پر ځان به وخاندي، مګر دې لټ سړي ته به د خندا چل هم نه ورځي، البته نوی کال او نوی ژوند به ضرور پرده وخاندي.

نو څښتن تعالیﷻ دې مور له هغسې حاله وساتي!!

هر څه به پیدا شي خو تېر وخت په هیڅ بیه بېرته لاس ته نه راځي نو د وخت هره شیبه باید دعلم او پوهې په زده کړه تېره شي.

# د رڼا په څرک پسې

د نا پوهۍ او بې علمۍ په توره تیاره کې پاته کېدل لویه ګناه ده او د جهالت تیارې ته ځان سپارل غټه کمزوري او سخته بد مرغي ده.

موږ له تیارې سره د مجادلې او مبارزې له پاره پیدا شوي یو، تر څو به په تورتم کې د ړندو په شان لاړ را څخه ورکه او هدف به مو مجهول وي؟؟

دانټرنیټ او کمپیوټر په دې عصر کې به تر کومه په دې حالت کې پاتې یو؟

نو راځئ، د پوهنې درڼا په څرك پسې!!

زموږ سفر په خپل کور کې دی او د پوهنې رڼا هم لېرې نه ده.

که موږ د نا پوهۍ او بې علمۍ په توره در بیله کې شعور ونه بایلو او په غیر شعوري تلاش کې لاس او پښې و نه وهو، نو یقیناً ډېر ژر د پوهنې رڼا ته رسیدلی شو...

ځکه پر مخ تللي هیوادونه یې ځرګنده بېلګه ده.

د بې شعوره او متذبذب ژوند په غېږه کې خوب د مړینې معنا لري نو راځئ، د پوهنې د رڼا په څرك پسې!!

د پوهنې رڼا لېرې نه ده، هغه ده د امیدونو له ګوټ څخه یوه زمزمه اورېدله کېږي چې:

"د تیارو کورونو خواته رڼا را روانه ده!"

نو راځئ چې ځانونه د پوهنې د رڼا راتګ ته چمتو کړو او د پوهنې د رڼا په انتظار خپل ویده ورونه راویښ کړو.

دا زموږ له پاره لوی پیغور دی ،چې د پوهنې رڼا راشي او بیا هم زموږ کور زموږ د بې پروایۍ له امله همداسې توره تیاره پاتې شي...

نو راځئ، د پوهنې په رڼا او برېښنا د خپل هېواد تورتم خونې روښانه کړو.

---

سپارښتنې:

۱- ښوونکي دې دپورتني نثر مقصد په خپلو خبرو کې زده کوونکو ته ووایي.

۲- زده کوونکي دې دپوهنې ګټې او ناپوهۍ زیانونه په ګوته کړي.

# د حج قیمت

وايي چې يوه پاچا د حج نيت وکړ. وزيرانو عرض وکړ چې:"د پاچا په وتلوکې د ملك خلل دی. عالم به سره وران شي. په دې ملك کې يو فقير دی، چې ډېرحجونه يې کړي دي. هغه له به ورشو او د يوه حج ثواب به ترې په بيه واخلو."

غرض دا چې پاچا فقير ته ولاړ فقير ورته وويل: "دټولوحجونو ټول ثوابونه په بيه درکوم." پاچا وويل "د يوه حج بيه به څومره وي؟ "

فقير وويل: "هر قدم چې ما د حج په لارکې ايښی دی د يوه قدم ټوله دنيا بيه ده." پاچا عرض وکړ چې: "ما څخه يا بل چا څخه دغه بيه چېر ته ده؟ ټوله دنيا چې د يوه قدم بيه شوه نو حج به څرنګه او په څه وشي؟" فقير وويل چې: "ای پاچا! زما د ټولو حجونو بيه تاته ډېره آسانه ده."

پاچا وويل "څرنګه؟"

فقير وويل: " که ته يو ساعت د مظلوم په انصاف الله ﷻ ته مشغول شې او د هغه ساعت ثواب ماته وبښې او زه د شپيتو واړو حجونو ثواب دروبښم نو، په دغې سودا کې به ما ډېره ګټه کړې وي."

# لنډۍ

لنډۍ هغه ولسي اشعار دي چې شاعر يې معلوم نه دی او د هر حساس پښتانه او حساسې پښتنې د احساساتو هېنداره بلل کېږي.

د پښتنو په غرو او رغو، کليو او ښارو، په شنو درو اولويو دښتو، د ځړوبي ترخنګ اود کېږدۍ اړخ ته، د شپانه او د بڼوال په شپېلۍ او بالاخره د دې پښتنې خاورې په هر ګوټ کې له دې اشعارو څخه يو شان خوند اخيستل کېږي.

زاړه يې د ځوانۍ د خاطراتو په ياد وايي زلميان او پيغلې د خپل زلميتوب شور او مستي پکې لټوي، مينانو ته د راز او نياز رويباري کوي توريالي ورسره د تورو په ميدان کې ګډېږي او پردېسان په پردېسۍ کې د خپل وطن مينې پرې تازه کوي.

دا اشعار څومره چې ساده، آسان او روان دي هومره د پرديو ژبو له اغېزو څخه هم پاک دي.

د ديوانونو اشعار که د عربي عروضو تابع دي، خو دا اشعار نه يوازې له عربي عروضو څخه بې نيازه دي، بلکې د سيلابي (Syllabie) سيستم په اساس ځانته عروض لري، لومړۍ برخه يې لنډه (٩) سيلابه او دوهمه برخه يې اوږده (١٣) سيلابه ده.

ددې اشعارو يو بل ځرګند خصوصيت دادی، چې زياتره پکې د ښځې له خوا نارينه ته خطاب وي او ځرنګه چې ښځينه طبقه ډېره حساسه او غرېبې تر نارينه خوندور دی، نو په لنډيو کې هم طبعاً تر نورو اشعارو خوند او اغيزه زياته محسوسېږي.

همدا شان هره يوه لنډۍ د ملي موسيقۍ يو داسې نوټ بللی شو، چې پر مختلفو طرزو او آهنګونو باندې غږول کېدای شي. هم درزم، هم د بزم، هم د سفر، هم د حضر، هم د غم او هم د خوښۍ او نورو راز راز حالتونو سره سمون خوري. يعنې هره يوه لنډۍ د ملي موسيقۍ پر ډول ډول آهنګونو او وزنونو باندې غږولای شو.

اوس ددې اشعارو څو نمونې بايد ولولو:

## ۱- د پسرلي په وخت کې:

سبا به بيا کډې بارېږي
د دښت ګلان به ستا لمنې بويوينه

بورا به خدای په ګلو مور کړي
باغوانه ستا نيمګړی نيت مې ژړوينه

د ګل ګلاب د ګل لپاره
نجونې ولاړې د باغوان سلام کوينه

## ۲- د تورې په وخت کې:

که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږولاليه! بې ننګۍ ته دې ساتينه

که توري نه کړې نو به څه کړې
چې مو شيدې د پښتنې رو دلې دينه
که تور اوربل مې ميراتېږي
په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه
ته په سنګر کې ځان شهيد کړه
زه به خپل شال ستا پر زيارت وغوړومه

## ۳- د وطن په مينه کې:

هر چا ته خپل وطن کشمير دی
ما ته کشمير دي د کابل سپيره ډاګونه

وطنه! هېڅ مې نه هېرېږې
خوړو ورېمو پسې دې اوښکې تويومه

په وطن سرو مال نه تېر يم
په ښېرازۍ کې يې سرې وينې ورکومه

وطن زما زه د وطن يم
پردي لاسونه ترينه بند کې پريکومه

په خپل وطن کې مې عزت دی
پردی وطن د خلکو قدر کموينه

د وطن کاڼي مې طلا دي
د سر په وينو يې غليم ته نه پرېږدمه

د وطن هر بوټی دارو دی
که مې نصيب شي ربه ستا شکر کومه

وطنه! ماته مور او پلار يې
تا کې لوی شوی په تا سر قربانومه

وطن زما د سترګو تور دی
د سترګو تور څوک چاته کله ورکوینه

وطـن زمـا د بـدن ساه ده
د بدن ساه پسې همېش سلګۍ وهمه

وطنه! دومره په ما ګران یې
چې شپه او ورځ دې په خدمت فخر کومه

وطنه! دومره پرما ګران یې
چې په جنت باندې دې هم نه ورکومـه

مورې کاغذ قلم مې راکړه
د وطـنپالـودا ستانونه پرې لیکـمـه

چې نیک زوی لورېې وي روز لي
دهغې مور په نوم ټول قوم فخر کوینه

تر مېړنو ځلمو مې ځارکړې
چې د وطــن پــه آزادۍ سرورکـویـنـه

دوطن خاورې هم سره زردي
ځکه ځوانان پرې سراو مال قربانوینه

سپارښتنې:

۱- ښوونکي دې دلنډیو دمضامینو او جوړښت په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.
۲- زده کوونکي دې له ځانه یوه یوه لنډۍ ووایي.
۳- زده کـوونکي دې دلنـډیو دلـومړي مـسرۍ او دویمـي مـسرۍ څپـې وشمېري.

# رحمان بابا

د رحمان بابا د پیژندنې دپاره همدومره بس دی چې ټول پښتانه ورته "بابا" وایي.

په پښتنو کې د بابا لقب یا هغو شاهانو ته ورکړل شوی دی، چې د تورې په زور یې پښتنو ته هېوادونه نیولي دي او یا هغو فقیرانو ته ورکړل شوی دی، چې نه یې توره او نه یې زور و، خو د خبرو په سحر یې د زړونو هېوادونه تسخیر کړي او د هر پښتانه د زړه په تخت ناست، پاچهي یې کړې ده، لکه چې رحمان بابا وایي:

د پالنګ او د پېړۍ حاجت یې نشته
دیارانو نشستن دزړه پــه تخت دی

خو رحمان بابا د خاورو کنډولی په لاس د پښتنو بابا و، وایي:

پادشاهان که د ډهلي په تخت نازېږي
خوار فقیر لره د خاورو کنډولــی دی

رحمان بابا پـه (۱۰۴۲هـ ق) کـال د پېښور پـه بهـادر کلـي کـې زېږیدلی دی د پلا رنوم یې عبد الستار و په قوم کـه څـه هـم مومند و خـو دده مقـام تـردې ډېراوچـت دی، چـې کـومې خاصـې قبـیلې تـه منسوب کړای شي. دی په خپله وایي:

زه عاشق یم سرو کار مې دی له عشقه
نه خلیل نه داودزی یم، نه مومنـــــد

رحمـان بابـا فقـه او تـصوف لـه مـلا محمـد یوسـفزي څخـه ولوستل او نور علوم یې په هند کې زده کړل لوی عالم او زاهد شو.

خو دده زاهدي د ريا زاهدي نه وه ،چې تر خرقې لاندې يې د خدای ﷻ مخلوق ته دام پټ کړی وي، په زړه يو څه او په خوله بل څه وي، بلکې رښتينی انسان و لکه چې ده په خپله ويلي دي:

د ريا لــه زاهــدی زمـا توبــه ده
چې يې کاندي څوك په رسم او په عــادات

په ورځ پند او نصيحت وايي و بل ته
په شپه ناست وي دمغان په خرابــات

دين يې دام وي ددنيا په لارکې ايښی
پرې را اړوي وحشـيان د مخلوقات

د هغو په لـور يې سـترګې وي ختــلې
چې په لاس يې سر سايه وي يا زکات

زه رحمان له هسې خلقه پنــاه غواړم
هر چې لاف کړي په خلاف د مقامات

رحمان بابا زاهد و، خو نه تش د خرقې زاهد لکه چې وايي:

د ريا خرقه يې خدای مه کړه په غــاړه
رحمان کوږ د ستار تړلی قلندر دی

رحمان بابا په يوه غريبه کورنۍ کې پيدا شوی دی او په خپله هم غريب و، خو دې غريبۍ هېڅکله دده لوړ همت ټيټ کړی نه دی او نه يې دده غاړه چاته کږه کړې ده او نه يې لاس د چا خواته اوږد کړی دی، وايي:

څوك دې را کاندي قسم په کردګار
که درم لرم په کور کې يــا دينـــار

زه درم او دينار نه لرم په کــور کــې
ولې نور عـــالم مې بولي دنيا دار

دا په دا چې نه له ځايه چېرته خوځم
نه د هېڅ يـــوه مخلوق يم منـت بار
آب و خور لکه آسيا په ځای را رســي
په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتـار
لکه ونه مستقيم په خپل مکـان يم
که خزان را بانـدې راشــي کـه بهار

غرض دا چې د رحمان بابا د اشعارو يو لوی مزيت دا دی، چې د هر چا له ذوق سره سم مطالب لري، نو ځکه به په پښتنو کې داسې کم کور وي چې هلته د رحمان بابا ديوان موجود نه وي ان تر دې پورې چې د ده په اشعارو زياتره پښتانه فالونه ګوري.

رحمان بابا په خپلو اشعارو کې نه د چا بې ځايـه مدحه کوي او نه يې هجوه وايي:

بلکې په دې کارونو له سره خوښ نه دی لکه چې په خپله وايي:

په اشعار کې قوتناك لکه زمری يم
ولې نه يم د زمـــري پـــه څېر ګزند
هم په مدحه هم په هجوه ښه پـوهېـږم
ولې نه يم په دا چارو ډېر خورســـند
بې له عشقه که مې عيب که مې هنـر دی
ما غوځ کړی دی له ځانه بل پيــوند

رحمان بابا په ۱۱۱۸ هـ ق کال وفات شوی او د پيښور د علاقې د هزار خانې په هديره کې ښخ دی

# د اوښکو ارزاني

که غله او ارتزاقي شیان قیمته شي خو د فصل په راوتلو رفع کېږي.

که کالي او لباس قیمته شي نو بیا هم څه نا څه ګوزاره کېږي.

خلك وايي: "بربنډ له لارې اوړي، وږی نه اوړي." که فیشني شیان قیمته شي، نو قیمته دې شي. که نه! تجمل بیل شی دی او زندګي بیل شی .

که اسعار قیمته شي نو د دولت په تصمیم یې علاج ممکن دی.

غیر ضروري لومړی، دویمه او دریمه درجه شیان له استعماله غورځوي که دا ټول شیان په یوه سویه ارزانه شي، نود یوه مملکت له پاره، درفاه او اسایش وسایل لاس ته راځي. اماټولنیز سعادت او خوشبختي دغه وخت هم نه حاصلېږي، د ژوند سعادت او خوښي د مادیاتو په زیاتوالي او ډېروالي دومره اړه نه لري لکه د ضمیر په آزادۍ او د روح په خوشحالۍ پورې چې تړلي دي.

په ژوند کې خطرناك او مدهش حال دادی چې اوښکې ارزانه شي، ویره، دهشت او ډار موجود وي او دوا نه وي. په طب کې د هر

درد ، پرهار او تپ علاج شته، مګر نه د زړه د درد او زخم. د زړه د درد علاج په خپله د زړه درد دی او بس.

د اوښکو د ارزانۍ علاج د پیسو د ارزانۍ غوندې نه دی چې د اقتصاد کوم ماهر يې علاج وکولی شي او نه د زراعت متخصصان په دې کار پوهېږي.

بې دردي په يوه قوم او جامعه کې داسې يو مرض دی ،چې په علاج يې پيغمبران پوه شوي دي. اې خدايه! موږ نه هغه زړونه واخله چې د مظلوم او بې وزلو له سترګو څخه په عبث تويوونکو اوښکو نه خوږيږي او هغه لاس، پښې او ژبه مه راکوه، چې بې لاسو او بې پښو ته صدمه رسوي اوخلك ژړوي.

( قيام الدين خادم )

## سپارښتنه:

۱ - شاګردان دې دپورتني نثر مقصد په خپلو خبروکې څرګند کړئ.

# د میرویس نیکه له ویناوو څخه

په ۱۱۱۹ هـ ق کال د ذوالقعدې د میاشتې په نولسمه چې زموږ ملي قاید او ستر مشر میرویس نیکه د ملت په مرسته د متجاوزینو او غاصبینو مشر ګرګین په قندهار کې وواژه او هلته یې د یوه ملي حکومت اساس کیښود ، نو دقوم د مشرانو او کشرانو په یوه لویه جرګه کې یې وویل:

"زه د ایمان له مخې وایم چې له دې ټولو کارونو څخه زما مطلب یوازې او یوازې ستاسې آزادي وه، ځکه چې آزادي داسې بې بها نعمت دی ،چې د هغه له پاره هر راز جنګونه او نیرنګونه روا دي، ګرګین له منځه ووت. اوس نو پښتنو ته چې همیشه یې د طاقتور مغل مقابله په ډېرې بهادرۍ سره کړې ده، د هغو فوځونو زغلول څه ګران نه دي ،چې د اصفهان د مسلیانو په لاس کې دي.

که تاسې سره متحد شئ او زما ملا وتړئ نو د ذلت او اسارت زنځیر به له خپلو غاړو څخه لیرې وساتو او د آزادۍ او عزت بیرغ به د خپل هېواد په هر ګوټ کې او د دنیا د ملتونو تر منځ پورته کړو او د پردۍ سلطې جغ به له خپلو اوږو څخه وغور ځوو.

پرخدای ﷻ توکل وکړئ، زړونه مو ډاډه و ساتئ. څنګه چې زموږ نیتونه پاك دي، نو د لوی خدای ﷻ په کومك به ضرور بری مومو.

که مورږ د خپل مال او ځان ایثار ونه سپموو، نو هغه مال او ملك چې مورږ یې مالکان یو او یا یې مالکان کېږو، هرومرو زمورږ دی او هرومرو به زمورږ وي.



میرویس نیکه

نو آیا دا لاژمه ده چې دا ټول لاس ته راغلي غنایم مو له لاسه ووزي او یا مورږ د نورو متابعت ومنو؟

یه، هېڅکله. نو له خپل لوړ افغاني همت څخه کار واخلئ او زیار وباسئ هغه ثروت چې تر اوسه زمورږ له هېواده د نورو لاسو ته ورتلو د خپل ځان له پاره ذخیره کړو او کوښښ وکړو چې نور ثروت هم لاس ته راوړو، څو چې خپل ځانونه غنیان کړو او د نورو له احتیاجه خلاص شو.

حقیقتاً کوم کار چې تاسې د متجاوزینو په ور کولو کې کړی دی، هغه د خپل وطن او د خپل دین په لاره کې لوی خدمت و، ګویا سکه مو د مرمرو په ډبره کې وکیندله او د قیامت په ورځ به ستاسې په ښو اعمالو کې حساب شي. نو ددې ښه کار په کولو دې ستاسې پر شیدو آفرین شي، زه ستاسې د زیار او سعې ډېر مشکور یم.

خو دا هم باید ووایم چې موږ ته لا ډېر درانه کارونه په مخکې پراته دي ، تر هر څه لومړی په موږ لازمه ده ،چې ټول په یوه زړه او یوه خوله واوسو او د خپلې آزادۍ د ساتلو په لاره کې یو د بل ملا وتړو او که لازمه شي په دې لار کې خپل سرونه او ځانونه هم فدا کړو.

موږ باید دا هم هېرنه کړو، چې زموږ دا کار به ضرور صفوي پاچا په غضب راولي او هرو مرو به د انتقام فکر وکړي او زموږ د مغلوبولو له پاره به نظامي قوت راولېږي او العیاذ بالله که یې بری وموند او موږ یې تر لاس لاندې شوو ،نو یقیناً به زموږ ټول نارینه تر تېغ تېر کړي او ښځې او اولادونه به مو بندیان بوزي."

میرویس نیکه تر ډېرو خبرو وروسته خپله وینا په دې جملو پای ته ورسوله:

"بیا هم هغه چې د پښتني غیرت او محمدي شریعت مقتضاوه ما تاسې ته وویل، نو اوس هم که ستاسې په منځ کې داسې څوك وي، چې د غلامۍ ذلت ته د آزادۍ پرعزت تر جیح ورکوي او خپل ځان زموږ سره د آزادۍ په دې مبارکه رشته چې موږ ته له آسمانه راغلې ده نه تړي، یعنې په آزادۍ خوښ نه وي او دمهربانو وروڼو تر متابعت د پردیو ظالما نو په تابعیت خوشحاله وي، آزادانه دې ووایي، هېڅوک به غرض ور باندې ونه لري او نه به تکلیف ور ورسوي مګر دا هم باید په ښکاره ووایم ،چې داسې څوك دې زموږ سره د اوسېدو تمه هم باید ونه لري او زموږ له خاورې او ملي ریاست څخه دې د باندې د کوم ظالم پاچا تر سیوري لاندې ژوندون اختیار کړي.

موږ عزم کړی دی ،چې نور نو پښتانه په هېڅ صورت د پردیو ځور او ستم منلی نشي... هو، وروڼو! الهي انتقام نږدې، او لوی خدای زموږ یار او مددګار دی!

"عقل او حکمت یوازې په ناز او نعمت کې نه دی او نه یوازې د آسایش د خاوندانو په دماغو کې ځای لري، زموږ په غرو کې هم عاقلان او حکیمان شته!!"

(د میرویس نیکه له ویناوو څخه)

## سپارښتنه:

۱- زده کوونکي دې دمیرویس نیکه د وینا غټ ټکي یا مقصد ووایي.

# آزادي

شهرت د عقل له نامه د افلاتونه نه ځي
د آزادۍ مینه هیڅکله له پښتونه نه ځي

سرو مال ځي د عشق په لار کې خاورې کېږي زړونه
د لیلا مینه پس له مرګه له مجنونه نه ځي

که هر څه لاړ شي له دې دهر او جهانه ځنې
د بل له جغ لاندې ژوندي ویښ ملتونه نه ځي

سر ورکول د خپل وطن او د ملت لپاره
څو چې دنیا وي له انسانه داخویونه نه ځي

د تېغ په سپین مخ کې رڼا د آزادۍ ځلېږي
د تورې خولې نه دغه راز ښه تا ثیرونه نه ځي

اثر د تورو پاتې کېږي تر آبده پورې
د کایناتو له زړګي دغه رازونه نه ځي

د آزادۍ ډګر ته هیڅ وخت رسیدلی نشي
هغه ملت چې د ننګ لار کې یې سرونه نه ځي

د جنت حورې ړدي خالو نه د شهید له وینو
د جنګ میدان ته به څوك ولې سره لاسونه نه ځي

د آزادۍ سندره دومره ډیر رنګونه لري
چې تمام عمر ابتکار له دې مضمونه نه ځي

(ګل پاچا الفت)

١٦ جوزا ١٣٨١
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

# د حیثیت، حقوقو او ټولنیزو مسؤولیتونو له مخی له نارینه ووسره د ښځو برابري

د هجرت په شپږم کال حضرت پیغمبر ﷺ د حج نیت وکړ، مکې ته چې نږدې شو مکې مکرمې ته د داخلېدو د مخنیوي لپاره یې د مکې له مشرکینو سره په خبرو پیل وکړ ، او په پای کی د حدیبې تړون لاسلیک شو.

د حدیبې په تړون کې یو شرط دا وه چې پیغمبر ﷺ به سږکال بیرته مدینې ته ولاړ شي او په راتلونکې کال کې به د مکې زیارت ته راشي.

د حدیبې د سولې په تړون کې حضرت محمد ﷺ د خپلې میرمنی حضرت ام سلمې ؓ په مشوره ځاي انتخاب کړ. حضرت محمد ﷺ په هغه ورځ خپلو یارانو ته امر وکړو چې خپلې قرباني وکړي او مدینې ته وګرځي، دحضرت محمد ﷺ یارانو د زیارت مینه درلوده نه یې غوښتل چې مکې ته له تګ پرته مدینې ته ولاړ شي.

حضرت محمد ﷺ د حضرت ام سلمي ؓ خیمې ته دننه کېدو کې وویل: اصحاب مې هلاك شول، څرنګه چې سوله لاسلیك شوي وه. پدې وخت کې ام سلمې ؓ حضرت محمد ﷺ ته مشوره ورکړه او ویی ویل :

اي د خدای استازیه ﷺ تاسو لومړي خپله پیل وکړئ او مسئله به حل شي.

حضرت محمد ﷺ ام سلمې په مشوره خپله قرباني ذبح او د خپل ویښتان یی کل کړل . اصحابو هم سمدستي د خپلو قربانیو په ذبح کولو پیل وکړ ، پدې ډول بحران پای ته ورسېد. دغه کار دي ته اشاره کوي چې د تصمیمونو په نیولو اود ټولنیزو مسؤولیتونو په سرته رسولو کې ښځې له نارینه وو سره برابري لري.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

*د دواړو رضائیت (ښځه او نارینه) د مېړمنې او مېړه په ټاکلو کې د کورنۍ او ټولنې سلامتي ده.*

.............................................

کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.
(دافغانستان داساسي قانون له څلورپنځوسمې مادې څخه)

کورنۍ دټولنې دجوړولو ستنه ده او واده کول د هغې بنسټ جوړوي، نوځکه ښځې او نارینه د واده کولو حق لري او هیڅ داسې یوبندېز چې دنژاد ، رنګ او یاهم دقوم له مخې وي، نشي کولای چې د دغه حق مخه ونیسي.
(دبشري حقونو داسلامي اعلامیې پنځمه ماده، دالف بند)

# خوشحال خان خټک

خوشحال خټك د پښتو ژبې هغه ننګيالی شاعر و، چې په يوه لاس کې يې قلم او په بل لاس يې د افغان په ننګ توره تر ملا تړلې وه او ويل به يې:

د افغـــان په ننګ مې وتړلـــه تــوره
ننګيالی د زمانې خوشحال خټك يم

دا ننګيالی افغان د ۱۰۲۲ هـ ق کال دربيع الثاني په مياشت کې د پيښور لمر خاته خواته د لنډي سيند پر غاړه "اکوړه" نومي ځای کې وزيږيد.

پـلار يـې شـهباز خـان د يحيٰـی خـان زوی او د ملـك اکـوړ نمسـی، د خټکو د قبيلې يو مقتدر مشر و، چې د هغه تر مړينې وروسته په خپله خوشحال د قوم مشر شو.

خو دی يوازې د تورې د ميدان مـشر نـه و، بلکـې د قلـم لـه لارې يـې هم د قوم لارښوونه پر غاړه اخستې وه.

خوشحال خان که له يوې خوا د تورې په برېښ خپله خاوره او خپلـه آزادي لـه پرديـوتيري کوونکو څخـه ساتله بـل پلـو تـه يـې د قلـم پـه څوکه د خپلې ژبې خدمت کاوه.



**خوشحال خان خټک**

د خپلې تورې داسې صفت کوي:

لا پــه خوب کې پــه لړزه پر یوزي لــه کتــه

چې د چا تر غوږ زما د تورې شرنــګ دی

لاتـــراوسه يې ماغزه په قرار نه دي

چا چې ما سره وهلی سر په سـنګ دی

خپله وینا او ژبه داسې ستایي:

زمـــا ژبـــه نــــــه ده اور ده

ګذارونـــــه د ټوپـــك كـــا

خوشـحال د پښتنـوالـې پـه دنیـا كـې د پښتنـو تـر مـنځ د اتفـاق غوښتونکی و او ټول پښتانه یې سره یو ګڼل، لكه چې وایي:

ټول پښتون له كندهـــــــاره تر اټكه

سره یو د ننګ په كار پټ او آشكار

او له نفاقه یې داسې بیزار دی، چې وایي:

كه توفیق په اتفـــاق پښـــــتانه مومي

زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

خوشحال باندې پښتنې دنیا تـر داسـې حده ګرانـه وه، چـې خپـل هر څه یې د پښتنو او پښتنولۍ له پاره غوښتل او ددې خبرې دا ثبـات له پاره همدا خبره بس ده چې په ۱۰۸۹ هـ ق كال چې دده زلمی ۲۶ كلن زوی "نظام" ځواني مرګ شو، نو په هغه وخت كې یې نـور ټول

غمونه هیر دي. یوازې دا غم کوي چې "نظام" ولې د پښتانه پر ننګه مړ نشو، چې له تلتکه قبرته ولاړ او د خپل ځوانیمرګ زوی په مرثیه کې داسې وایي:

کاشکې ځوان د پښتانه په ننګ کې مړ وای
نه چې ګور لره روان شو له تلتکه

چې د قام په ننګ کې ومړ هغه زویه
په عالم کې د خپل پلار غاړه کا لکه

خوشحال د علم او ادب په دنیا کې هم ښه نوم لري مستر راورټي مستشرق دده تالیفات (۲۵۰) ټوکه بولي.

خوشحال تر شپیتو زیات زامن درلودل او یو دیرش یې لوڼې وې او د ۷۸ کالو په عمر د (۱۱۰۰ هـ ق) کال د ربیع الاول په ۲۸ مه ورځ وفات شو، دده وروستنی وصیت دا و:

"ما هلته ښخ کړئ، چې د مغلو سیوری مې پر خاوره ونه شي او د مغلو د سپرو د پښو ګرد مې پر هدیره ونه لوېږي!!"

# چې ورسېږم، نو دمه به کوم

هېڅ پروا نشته، که زه دغه اوچتو سرونو ته، چې ختل غواړم، ونه رسېږم. که زما نا از مایلی قوت ماته جواب را کړي، یا د غره اوچتو سرونو ته، له رسېدو نه مخکې سخت توپان ما له تلو څخه منع کړي، په هر صورت که زه دغه ځای ته ورسېږم او که نه، مګر زه جد وجهد کوم، ځان به ستړی کړم، ځکه چې ماته د ژوند خوند په دې کې دی.

چې زه ورسېږم، نو دمه به کوم. هو، سره ددغه ټول محنت او کوښښه، چې زه یې کوم، که د بریالیتوب خوشحالي زما په نصیب نشي نو، نه دې شي.

که زما لاس ته هغه مېوه را نشي، چې زما سیالانو ته، په جدوجهد سره ورغلې ده، نو څه؟... که هر څو د منزل مقصود نښه هم زما په نظر نه راځي، مګر بیا هم په دې خیال سره مسروریم، "چې ورسېږم، نو دمه به کوم."

که زما لاس، زما د مطلب په حصول ونه لګي، نو، نه صحیح!... څه اندېښنه ده؟

که زما لار، تیارو او کنډوکپرو کې تیره شوې ده... څه وشو؟

که زه د ژوندانه له ډېرو خوږو لمحو څخه محروم او سم!...

ځکه چې په دې ارزو کې ماته پوره خوند او مزه حاصله ده، "چې ورسېږم، نو دمه به کوم"

(له نوي ژوندون څخه)

# د علم هنر

د خوشحال خان ختټك له مشهورو آثارو څخه یو هم "دستار نامه" ده چې خوشحال په ۱۰۷۶ هـ ق کال لیکلې ده او بیا په ۱۳۷۱ هـ ق کال په پیښور کې چاپ شوې ده، وروسته په سم لیك دود په ۱۳۴۵ ش کال د پښتو ټولنې له خوا په کابل کې چاپ کړای شوه.

څنګه چې نثر یې ډېر ساده او روان دی نو ځکه یې موږ دلته د خوشحال د نثر د نمونې په توګه یو څو جملې د علم په باب کې کټ مټ رانقلوو:

"علم په لغت کې زده کولو ته وایي او په اصطلاح کې تحصیل د علم عربي، فارسي و غیره وته چې شهرت څوارلس علوم لري علم وایي، هر چه دا علوم تحصیل کا واړه ولولي هغه دانشمند، فقیه، فاضل، عالم او ملا باله شي..."

علم داد الهي دی، فیض متناهي. د دواړو جهانونو لویي، بزرګي په علم کې ده، د خدای ﷻ شناخت سرمایه دواړه سعادتو نه علم کې دي.

د پیغمبرانو متابعت په علم کې دی. هر چې علم بیا مومي، میراث بیا مومي. ددنیا لویي هم په علم کې ده. که نداف او جولاوي چې دانشمند شي، پادشاهان یې تعظیم او تکریم کا. عالم واړه دده خدمتګار شي. که کیمیا ده که سیمیا ده که ریمیا، که نجوم دی، که طب دی، که حکمت دی، دا واړه په علم کې دي، غرض دا چې د دواړو کونو مراد مقصود کامراني او کامیابي په علم کې ده. خدای ﷻ دې توفیق هر چاته ورکا، چې تمام عمر په تحصیل د علم صرف کا او که نه هو مره خودې وي چې محروم پاته نه شي. که نه وي د سړیو له حسابه وزي د ځارویو په حساب باله شي.

عام کالانعام شي بل اضل. که بادشاه زاده وي چې د علم په نقصان کې پاتې شي ددین، دنیاله دولته نا امید شي. که روستا زاده وي چې د علم له حکمته یې برخه وشي ددین دنیا سعادت، لویي او بزرګي وګټي.

مې په علم په فضیلت بویه. فضیلت او دولت سره توامان دي د علم او د فضیلت د څښتنو محتاج بادشاهان وي. هر څیز نقصان او کمال لري. د سړي کمال په علم او په فضیلت کې دی. که یې

حاصل کا کمال يې حاصل شه او که نه په نقصان کې پاته شو. مثلاً اوسپنه پيدا ده چې توره شي. که داستاد تر لاسه ورغله توره ورځنې سازه شوه، صيقل شوه، تيره شوه، موتی، ميان يې مرتب شول، تر ملا شوه، غزا پرې وشوه، ددښمن تر ورمېږ پريوته، کمال يې حاصل شه او که نه دا هېڅ نه وي او په نقصان کې پاته شي. په دا شان د هر شي کمال او نقصان شته..."

د خوشحال له دستار نامي څخه اقتباس

## زده کړه تر څه وخته؟

وايي چې: ارسطو په اويا کلنۍ کې د بربط د غږولو زده کړه شروع کړه، خو شاگردانو يې اعتراض وکړ چې په دې سن کې له تا سره مناسبه نه ده چې بربط غږول زده کړې...

ارسطو ورته وويل: بالعکس، په دې سن کې زما سره دا مناسبه نه ده چې زما بربط غږول زده نه وي!!

# د کوهستان شفق

هندو کش په سر لمبې دي          که آسمان سره کناره ده
د کوم سوي زړګي آه دی          یا د وینو فواره ده
که چنګیز د عصر توره          چې له تیکي را ښکاره ده

یا خو بل د میني اور دی
د فلك پرې سوی کور دی

د سکندر د وخت شهید دی          په حسرت ګوري بګرام ته
یا لېوال روح د عاشق دی          چې ورځي د یار سلام ته
یا ویاله د سرو شرابو          چې توئېږي یوه جام ته

دا میدان د کربلا دی
که سالو سور د لیلا دی

دا زړګی د آسمان وچاود          که سینه د دیوانه ده
یا ساقي له لاسه ښکته          چپه شوې پیمانه ده
او که درس د عبرت لیك دی          ښه رنګینه افسانه ده

موږ ته یاده جانبازي کړي
د نیکونو سربازي کړي

د (مومن) د زړه په وینو    (شیرینو) سور کړی لاس دی
که کفن د شهیدانو    پرښتو نیولی پاس دی
یا دنیا کې خونریزي ده    پر افق یې انعکاس دی

په شفق د کوهستان دی
را چاپېره پر آسمان دی

دې شفق کې ستوری ښکاري    که صدف دی سره دریاب کې
یا حساس زړه د شاعر دی    چې ډوب شوی په خوناب کې
یا یتیم دی اوښکې څاڅي    ددې دهر په سیلاب کې

که سپین غاښ دی ځلېده کې
د محبوبې په سره خوله کې

دا په غرونو وریځ نه ده    دود شوجګک له کوهستانه
یا سپېرې پاڼې تاریخ دی    چې قصې کړي له بامیانه
یاخو ګرد زمونږ دپښو دی    چې باج اخلي له آسمانه

دا چې شنې ډ کې ولې دي
د آسمان د مخ خولې دي

(عبدالروف بینوا)

# پښتو د پخوانيو شاهانو
## په دربارونو کې

تـر کومـه ځايـه چـې د پښتـو موجـوده ماخذونـه لـه مـوږ سـره کومـك کوي، پـه افغـانسـتـان کـې لـومړی پاچـا چـې لـه پښتـو ژبـې سـره يـې مينـه درلـود لـه د اميـر فـولاد سـوري زوی، اميـر کـروړ و، چـې پـه ۱۳۹ هـ ق کال د غور پـه "مند يش" کې پر تخت کښېناست او جهـان پهلوان يې باله. وايي چې ډېر غښتلی پهلوان و. پـه يـوه تـن لـه سلو جنګياليو سره جنګېده. ځکه يې نـو "کروړ" وبالـه. دغـور کوټونـه، بالشتان، خيسار، تمران ماڼۍ او برکوشك يې ټول تر حکمرانۍ لاندې وو او پـه زمينـداور کـې يـې هـم د منـد يش پـه څېـر ماڼـۍ درلودله.

د امير کروړ نه يوازې لـه پښتـو سره مينـه وه، بلکـې د پښتـو ژبـې ښـه شـاعر هـم و. د پښتـو ژبـې د ادب پـه تـاريخ کـې دده د ويـاړنې اشعار ډېر شهرت او اهميت لري چې لومړی بند يې دادی:

زه يم زمری پردې نړۍ له ما اتل نشته
په هندو سندو پرتخار او پر کابل نشته
بل په زابل نشته
له ما اتل نشته

اميرکروړ په ۱۵۴ هـ ق کال د پوشنج په يو جنګ کې مړ شو او دده زوی امير ناصر دغور پر تخت کښېناست.

تر امير کروړ وروسته د غور د نورو سوري شاهانو په دربارونو کې هم پښتو لوړ مقام درلود او د پښتـو شـاعران پـه کـې روزل کېدل،

چې یو له هغو څخه شیخ اسعد سوري د امیر محمد سوري (چې د سوري کورنۍ وروستنی پاچا تېر شوی) معاصر و.

شیخ اسعد د سوري خاندان په دربار کې ډېر عزت درلود او هغه وخت چې سلطان محمود غزنوي پرغور باندې حمله وکړه او امیر محمد سوري یې د "آهنګران" په کلا کې محاصره کړ، شیخ اسعد هم هلته له امیر سره و، او بیا چې امیر سوري د ګرفتارۍ په حال کې د غزني په لاره زهر وخوړل مړ شو، نو شیخ اسعد چې د هغه ډېر دوست و، د هغه په مړینه کې یې یوه لویه قصیده وویله چې د پښتو د زاړه ادب له شهکاریو څخه ګڼله کېږي او دی لومړی شاعردی چې د پښتو په نظم کې یې قصیده و ویله. ددې قصیدې مطلع داده:

د فلك له چارو څه وکړم کوکار
زمو لوی هر ګل چې خاندي په بهار

شیخ اسعد په **۴۲۵** هـ کال د زمینداور په "بغني" کې وفات شوی دی.

تر امیر محمد سوري وروسته سلطان شهاب الدین غوري هم له پښتو سره ډېره مینه درلودله او په خپل دربار کې یې لوړ مقام ور کړی و.

"ښکارندوی" د پښتو پخوانی مشهور شاعر د همدې سلطان د دربار شاعر و او پر سلطان یې ډېر قدر درلود. هغه وخت چې په (**۵۷۱**هـ) کال سلطان پرهند یرغل وکړ، نو ښکارندوی دده په ستاینه کې ډېرې قصیدې وویلې چې د یوې قصیدې سر یې دادی:

د پسرلي ښکلوونکي بیا کړل سینګارونه
بیا یې ولـونل په غرونو کې لالــونه

همدارنګه د پښتـو بـل مـشهور روحانـي شاعر "ملکیـار غرشین" د سلطان شهاب الدین غوري نږدې ملګری و او له همدې سلطان سره هند ته تللی او سلطان په ډهلي کې ورته د هستوګنې ځای ښښلی و د ملکیار لـه یوې ترانې سر، چې د غازیـانو د تـشجیع لـه پـاره یې ویلې و دادی:

ښـــتن مومل دی اوس مـو یـرغـل دی
هیـواد د بــل دی
غازیانو ګــــوري
ښتن مومـــل دی

د همدې ترانې په وروستي بند کې د سلطان شهاب الدین غوري داسې ملاتړ کوي:

غــازیـانو راشـئ ټول شـاو خـوا شـئ
د "شهاب" په ملاشئ
دښـمن مو غـوڅ کـئ
ښتن مـو مـل دی

تـر سلطان شـهاب الـدین وروستـه د سلطان غیـاث الـدین غـوري پـه دربار کې هم د پښتو شاعرانو ښه قدر و او د پښتـو پخوانی شاعر " تایمني" د همدې دربار شاعر و، چې د سلطان په مدح کې یې ډېر اشعار ویلي دي، څو بیته یې دادي:

نن زه غږېږم په صــفت د ســلطــان
چې دی بادار غازي ملك د جهــان
د فيروز كوه او غور رڼــا لـه ده، ده
هم د تېــرو تورو بـــريښـــناله ده، ده
غياث الدين د غور زمرى عاليشان
د اسلام دين دده پــه توره روښـــان
چې توره وكارېږي چرتــون كي خالي
غليم يې كله كړي په تــوره سيالي
تل دې برى وي د غازي پر ميــدان
زه " تايمني" ستاينه كــړم د ســلطان

د ملتـان لـودي شاهانو هـم لـه پښتـو سره زياتـه علاقـه درلودلـه، تـر دې چې "نـصر لـودي" تـر سلطان حميـد لـودي (۳۴۱- ۳۹۰ هــ) وروسـتـه د ملتـان د سلطنت پرتخت كښېناست د پښتـو ژبې ښه شاعر و او همـدا شان "شيخ رضي لودي" د نصرلودي اكا په پښتو شعرونه ويل:

سلطان فيروز شاه د سالار رجب زوى او د غـازي ملك خـان وراره و چې دخپل اكا د زوى سلطان محمد شاه تـر مـرګ وروسـتـه د (۷۵۲ هــ) كـال د محـرم د مياشـتې پــه ۲۴ مــه ورځ پــه هندوسـتان كـې شهنشاه شو تردې حده په پښتو ژبې مين و، چې دده په دربـار كې د درباريانو اعتبار او عزت هم په پښتـو پورې تړلـى و. شير محمد خان په خورشيد جهان كې ليكلي:

"... جز وسیله پښتو وپښتو ګويي در دربار فيروز شاهي احدی را پیشقدمی مقدور نبود وطايفه افاغنه را فيروز شاه از تمام شرفا عزيز تر ميداشت..." (صفحهٔ ۷۲ خورشيد جهان).

دا د پښتو او پښتنولۍ پالونکی شهنشاه تر ۳۸ کالو پاچهی وروسته د روژې په ۱۸ په (۷۹۰هـ) کال وفات شو.

سلطان بهلول لودي، چې په ډهلي کې يې پر ځان خطبه وويله او دده په نامه د پاچهي سکه وهل شوې وه او اته ديرش کاله يې پر هندوستان سلطنت کړی دی د پښتو ژبې بديهه ويونکی شاعر و.

وايي چې خليل نيازي دده د دربار پښتون شاعر د هندوستان دبرسات په موسم کې دا لاندې رباعي د سلطان په مخ کې وويله:

خړې وريځې ژاړي له پاسه      کويله ږغ کا بېلتون له لاسه
يه، هغه لونې ګوهر په خول ستا      دا مرحبا کا ستا زموږ مواسه

سلطان سمدستي دا رباعي وويله:

ملك به زرغون کړم په ورکړه راسه

ګوره وريځې د داد له پاسه

خول مې د عدل په درو روڼ دی

جهان به زيب مومي زما له لاسه

داپاچا په (۸۹۴ هـ) کال وفات شوی دی.

د پښتنو ملي قايد میرویس نیکه که څه هم پاچا نه و، خو د پښتنو د ستر مشر په حیث یې له پښتو سره زیاته مینه درلوده او د پښتو شاعران او عالمان یې روزل.

د رحمان بابا دېوان ته یې ډېره عقیده درلودله او حتی د ملي قیام او اقدام په وخت کې یې هم دده په دېوان فال نیوه.

د پټې خزانې مؤلف د خپل پلار له خولې لیکي: کومه ورځ چې میرویس نیکه د پښتنو مشرانو لویه جرګه د خارجي متجاوزینو پر ضد د ملي قیام له پاره را غونډه کړې وه نو د رحمان بابا دېوان یې پرانیست او دا بیتونه راغلل:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګویا یم
خاموشي زما تېری کا ترغوغا زما
کښت د عشق په توده ځمکه امان چېرې؟
سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما

له دې څخه یې دا نتیجه واخیستله چې اوس خاموشي بهتره ده او باید په پټه خوله د ملي قیام له پاره زمینه مساعده شي، څو ورځې وروسته چې د ملي قیام وخت راغی، میرویس نیکه بیا د رحمان بابا دیوان پرانیست او دا بیتونه راغلل:

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب و
خدای وما و ته ښکاره کړ هغه نمر بیا
چې رقیب را ته تړلی په زنځیر و
خپل حبیب را باندې پرانیست هغه ور بیا

په وصـــال يې منت بار اوسه رحمانه!
پـــه صدف کې دخل نشـــته د ګوهـــر بيا

ددې بيتونو تر لوستلو وروسته ټولو مشرانو په يوه اتفاق د ملي قيام تصميم ونيو.
د ميرويس نيکه مور "نازو انا" هم د پښتو ژبې پخه شاعره وه. وګورئ، په دې رباعي کې يې د ژوندون د بد بينۍ او خوش بينۍ دواړه مفکورې څنګه ښې راوړې دي، چې وايي:
ســـحرګه وه د نرګس لېمـه لاتـــــده
څاڅکي څاڅکي يې له سترګو څڅېده
ماويل، څه دي ښکليه ګله ولې ژاړې؟
ده ويل، ژوند مې دی يوه خوله خندېده

علاوه پردې د ميرويس نيکه اکثره سپه سالاران او ملګري د پښتو ژبې شاعران وو، لکه سپه سالار سيدال خان ناصر، سپه سالار داؤد هوتك د پټې خزانې د ليکونکي، پلار، ملا پير محمد مياجي، مشهور په "پير افغان" بابوجان بابي، ملا نور محمد غلجی او نور... د پښتنو دا ملي قايد د (۱۱۲۷هـ) کال د ذوالحجة الحرام د مياشتې په ۲۸مه وفات شو.

شاه حسين هوتك د ميرويس نيکه زوی چې د (۱۱۱۴ هـ) کال د ربيع الاول د مياشتې په ۲۳ دکلات د سيوري په علاقه کې زېږېدلی و او په (۱۱۳۵ هـ) کال د خپل ورور شاه محمود هوتك په

انتخاب په قندهار کې پاچا شو او تر (۱۱۵۱هـ) کال پورې يې پاچهي وکړه د پښتو ژبې مين او ښه شاعر و. دې زلمي پاچا له هغه وخته چې د سلطنت واګې يې په خپل لاس کې ونيولې پښتانه ادبا، شعرا او علما يې پر ځان راغونډ کړل او هر کله به يې له هغوی سره ادبي جرګې او علمي مجلسونه کول، په خپله به يې له هغوی سره د پښتو اشعار ويل او د نورو اشعار به يې اورېدل.

د زلمي شاه حسين دوره هغه لومړۍ دوره ده چې پښتو ته اساسي توجه شوې ده او په پښتو کې ښه ښه ليکونکې او شاعران ميدان ته راووتل او ګټور آثار ليکل شوي دي چې له هغې جملې څخه يو با ارزښته اثر د "پټې خزانې" کتاب دی چې د همدې علم دوسته پاچا په اشاره ليکل شوی دی.

د پټې خزانې مؤلف په خپله ليکلي:

زه چې محمد هوتك يم او په اصل پښتون په قندهار کې اوسم. له ډېره وخته ده چې په ويلو دداسې ويناوو بوخت يم او د شپې او ورځې مې هم دغه کار دی او دا ډېر وختونه تېر شول، ما غوښته چې زه د پښتنو شاعرانو تذکره وکاږم او د دوی احوال سره راټول کاندم، مګر زمانې ماته فراغ را نه کا او دا هيله مې په زړه کې وچه شوه... هغه وخت چې زما په ارادې خبر شو زمونږ د پښتونخوا د سترګو تور امام المسلمين شاه حسين الطاف ښکاره کا چې دا

خپله اراده پوره کاندم او د پښتنو شاعرانو حال سره راټول کاندم.
څه چې زموږ بادشاه او ښالم خپلو د زړه سر شاه حسین خلد الله ملکه و سلطنه په خپله هم د ښې وینا خاوند او د پښتو شعر شوقمن دی...

پاد شاه عالم پناه په ارګ کې د قندهار، هغه قصر چې "نارنج" بالـه شي هلته په هفته کې یوه ورځ دربار کا، په کتب خانه کې او په مجلس کې یې علما جمع کېږي او شعرا او فضلا ټولوي. زه محمد هوتك کاتب دديې کتاب هم په دې مجلس کې یم او د پادشاه ظل الله اشعار او ابیات په قلم کاږم او کتاب د دیوان یې مرتب شوی دی کله پښتو اشعار وایي او کله فارسي ژبې ته میل کا او استاد العلما ملا یار محمد ته یې قرائت کا، چې سهوه وسقم ځنې زایل کا او د پاچا په اشعارو کې لږه سهوه لیده شي او علمایې ټول په بلاغت او فصاحت قایل دي او سماع ته مایل..." د شاه حسین دیوې غزلې سر دادی:

ببلتانه دې د غمو په چپاو چور کـړم
په تیارو کې د هجران یې له تا دور کړم

د شاه حسین خور مېرمن زینبه هم د پښتو شاعره وه او دده د دربار د نورو علماوو او پښتو شاعرانو نومونه دادي:

۱- افضل العلما ملا یار محمد هوتك چې لوی عالم او د پښتو ادیب و او په فقه کې یې د "مسایل ارکان خمسه" په نامه کتاب لیکلی دی.

۲- د هغه وخت د قندهار د جامع جومات امام، ملا محمد یونس توخي و چې په پښتو کې يې د "جامع فرايض په نامه يو کتاب ليکلی دی.

۳- محمد هوتك د پټې خزانې مولف دی چې دوه نور کتابونه يې "خلاصة الفصاحت" "خلاصة الطب" هم په پښتو ليکلي دي او د پښتو ښه شاعر هم و، چې د يوې غزلې سر يې دادی:

ساقي پاڅه! د سرو ميو ډك يو جام را

ستا له غمه نا آرامه يم آرام را

۴- بل ښه عالم او مرتجل شاعر ملا زعفران تره کی و، چې د پټې خزانې مولف د "مدار الهام" او "صدر الفاضل" په نامه ياد کړی دی او وايي چې : "د پاد شاه ظل الله کين لاس دی" يو کتاب يې د "گلدسته زعفراني" په نامه په حکمت او طب کې ليکلی دی.

۵- سالار بهادر خان د شاه حسين مشهور سالار هم د پښتو ژبې شاعر و او د محمد هوتك په قول "د پاد شاه ظل الله بازو دی". او شاه حسين به په "ورور" ورته خطاب کاوه او عوامو "امير الامراء" باله.

۶- فصيح دوران ريدی خان مومند هم د پښتو پوخ شاعر و، چې په (۱۱۳۶هـ) کال اصفهان ته ولاړ او هلته يې د شاه محمود هوتك سره صحبتونه وکړل او چې بېر ته قندهار ته راغی نو (محمود نامه) يې په نظم ترتيب کړه چې شاه حسين ورته زر طلاوې صله (بخشش) ور کړې.

۷- نصرالدین خان د پښتو شاعر د شاه حسین په دربار کې ډېر عزت درلود په اشعارو کې یې (نصر) تخلص کاوه.

اعلیحضرت احمد شاه بابا خو په پښتو کې د اشعارو لوی دیوان لري چې له هغه څخه له پښتو سره دده مینه څرګندېږي.

د پښتو ژبې د ادب په تاریخ کې د احمد شاه بابا دربار لومړی دربار دی چې د پښتو ژبې ګرامر (صرف او نحو) په کې لیکل شوی دی.

دا ګرامر پیر محمد کاکړ د پښتو ژبې خوږ شاعر او عالم د احمد شاه بابا د زوی شهزاده سلیمان له پاره چې دده شاګرد و، ولیکه او نوم یې ورباندې (معرفة الافغاني) کېښېښود:

دا کتاب په افغانستان کې د پښتو لومړی ګرامر باله شي چې تر اوسه پورې، زموږ لاس ته راغلی دی.

اعلیحضرت تیمور شاه د احمد شاه بابا زوی هم په پښتو ژبه شعرونه ویل چې د یوې غزلې سر یې دادی:

نن مې بیا له تورو سترګو سره جنګ دی

پر لبانو یې د زړه دوینو رنګ دی

اعلیحضرت شاه زمان هم خپلې ملي ژبې ته توجه درلودله او د ده په دوره کې هم هغه ادبي تحریك چې د مخه و، ژوندی پاتې شو، که څه هم په خپله د شاه زمان کوم پښتو شعر نه دی لیدل شوی، خو نورو

د پرو پښتنو لیکوونکو او شاعرانو دده په نامه په پښتو کتابونه ولیکل او اشعار یې وویل. مثلاً رحمت داوي چې په کندهار کې اوسېده په (۱۲۱۰هـ کال کې دلیلی او مجنون کیسه په پښتو نظم کړه چې په مقدمه کې یې د خپل پاچا داسې ستاینه کړې ده:

سلطنت د شاه زمان دی — دی خاقان ابن الخاقان دی
پلار نیکه یې پادشاهان وو — دویه تاج د هر افغان وو
شکرشکر شاه زمان — غنیمت دی دا زمان

د هغه وخت دوه نور شاعران یو میا نعیم متیزی او بل ګل محمد ابدالي هم وو، چې د دوی له اشعارو څخه د هغه عصر د پښتو ادبي تحریك ښه څرګند پرېږي.

د امیر دوست محمد خان په وخت کې هم پښتو ژبې د شاهي کورنۍ په زړه کې ځای نیولی و. او د همدې مینې په اثر د امیر دوست محمد خان دوه ورونه سردار مهر دل خان (مشرقي) او سردار پر دل خان د پښتو ښه شاعران وو او پښتو ته یې په درنه سترګه کتل، سردار مهر دل خان چې په قندهار کې اوسېده، دغه ښار د ښو ښو فضلاوو او ادباوو د پالنې مرکز و. هر ماز دیګر به د قندهار نامتو ادبا لکه میرزا حنان، حاجي عبد اله، صدیق آخندزاده او نور شاعران دده په مرکزکې سره راغونډېدل او هلته به یې علمي او ادبي بحثونه کول.

د سردار مهر دل خان ديوې غزلې سر دا دی:

پلو واخله له سپوږمۍ مخــه مېــرمنې
ستا بې مخه راته شپې دي ورځې سپينې

د سـردار پـر دل خـان ديـوې بـدلې سر چې پـر ملي وزن يـې ويلـې ده داسې دی:

وې ګورئ د ګل په شان مې ژړ رخسار ديار دی
عـالم يې تمه دار دی

اعليحـضرت اميــر شـېر علـي خـان پــه خپـل دور کــې پښتــو تــه مخـصوصه توجـه درلودلـه. ټـول عـسکري الفـاب او عنـاوين يـې پـه پښتو کړل. ټولې عسکري قوماندې او بولۍ يـې پـه پـښتو واړولـې چې دلته يې د نمونې په توګه څو القاب راوړو:

| رتبه: | پښتو لقب: |
|---|---|
| سپه سالار | ټول مشر |
| نائب سالار | سر غټ مشر |
| جرنيل | غټ مشر |
| برګډ | پنځر مشر (پنځه زر مشر) |
| کرنيل | زر مشر |
| کميدن | ناب |
| کپتان | سل مشر |
| صوبه دار | بلوك مشر |
| حواله دار | لس مشر |

همداسې د ملکي مامورينو القاب په پښتو شوي وو، چې څو القابه يې داسې وو:

| | |
|---|---|
| صدر اعظم | لوی مختار |
| مستوفي | لوی ملك |
| خارجه وزير | لوی مين د باندې |
| حشمت الملك يا داخله وزير | لوی مين دغرو |
| دبير الملك | لوی کښلی |

علاوه پردې د امير شير عليخان له خولې څو لنډۍ هم راپاته دي.دده دا لنډۍ هغه وخت ويلې شوې دي چې له کابله مزار ته تللو او د بدبختيو ورته مخ و:

ما ويـــل په تـــابه زړګـی ښـــاد کــــړم
اوس له تا ورم دارمانجن زړګي داغونه
د غــــــم لښـــکرې را پســــې دي
د پاچهی تاج مــــې په سر له ملکه ځمه
نه لـــــه تــا ځــم نــه مــې هيـــرېږي
يا به زه مرم يـــا بـــه دې وســـاتم وطنه
د يـــارۍ لاس مــې تاتـــه در کــــــړ
پرتا بايلمه سرو مــال هـــم اولادونـــه

د اعلیحضرت امیر حبیب الله په عصرکې پښتو یو بل غټ ګام پرمخ واخیست او هغه داو، چې پښتو ته په ښوونځیو کې ځای ورکړ شو او د معارف په تعلیمي نصاب کې شامله شوه.
د امیر حبیب الله خان ترمرګ وروسته په اماني دور کې د پښتو ژبې د خدمت له پاره یوه جرګه د کابل په مرکز کې تشکیل شوه، چې د هېواد له ډېرو پښتنو ادباوو او فضلاوو څخه مرکبه وه او د "پښتو مرکه "یې بلله.
دې مرکې د پښتو ژبې قواعد ولیکل، لغات او اصطلاحات یې راغونډ کړل، نوي نومونه او اصطلاحات یې جوړ کړل، ځینې ابتدایي کتابونه یې د ښوونځیو له پاره ترتیب کړل، یو کتاب د "یوازینۍ پښتو" او بل د "پښتو ښوونه" په نامه طبع او خپاره شول.
پښتو مرکې د پښتو ژبې یو جامع قاموس هم ولیکه مګر له بده بخته چې طبع او نشر نشو.
د سراج الاخبار او طلوع افغان په جریدو کې هم پښتو جاري شوه.

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د پټې خزانې په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.
- که زده کوونکي له دغو شاعرانو پرته نور کوم شاعران پېژني د هغوی نومونه دې واخلي.

# وطن وايي

زما د آبادۍ له پـاره پورته شئ اوچت شــــئ　　　مــلا وتـــــړئ زلمــو

لاسونه سره ورکــړئ ټول په مینه یو قـوت شئ　　　مــلا وتــــړئ زلمــو

❁ ❁ ❁

زما په هره ګــټه کې دسرو زرو قیمت شــته　　　په قـــدر یې که پوه شئ

زما د اوبو ځــاځکي کې د عصر لوی طاقت شتــه　　　په قـــدر یې که پوه شئ

زما په دوړه خاوره کې اکسیر غونـدې حکمت شته　　　په قدر یې کــه پوه شـئ

د پوهې رڼا واخـلئ چې ښه پوه پـه حقیقت شئ　　　مــلا وتـــړئ زلمــو

❁ ❁ ❁

زما د غرونو ګیډې د لعـــلونو خزانـــې دي　　　که دي ستاسو لـــه پاره

د جګو غرونو څوکې مې د عزم نښـــانې دي　　　که دي ستـاســو لـه پاره

هر ناو، هره دره مې د ننګونو افســــانې دي　　　که دي ســـتاسو له پاره

نورمه کښېنئ را پاځئ یو مټ او یو غیرت شئ　　　مـــلا وتــړئ زلـمــو

❁ ❁ ❁

زما په هر يو بوټي کې داروشـــــته د رنځونو　　صحت به ستا سو ښه کړي
زما اغزي ښـــه وګڼئ د نـــورو لـــــه ګلونو　　صحت به ستا سو ښه کړي
زما خوږې ميوې مو که روزي شـــي د ښونو　　صحت به ستاسو ښه کړي
نصيب پسې به ځو ګرځئ په خپله خپل قسمت شئ　　مـــــلا وتـــړئ زلمـــو

❁ ❁ ❁

زما روښانه لمـــر خوږې اوبه ښکلې هواده　　که پوه شوې ښکلی ژوند دی
فضا د آزادۍ ده څـــه عجبه شان دنيـــا ده　　که پوه شوې ښکلی ژوند دی
سودا را سره نشته او کـــه وي دغه ســـودا ده　　کـــه پوه شوې ښکلی ژوند دی
روان په سمه لاره د ورورۍ اود وحدت شئ　　مـــلا وتـــړئ زلــــمـــو

( نصرالله حافظ)

سپارښتنې:

- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه د پورتني شعر مقصد وپوښتي.
- که د زده کوونکو کوم شعر د وطن پـه بـاره کې پـه يـاد وي خپلو ټولګيوالو تـه دې ووايي.

# قوي او ضعيف

د دنیا دود او د ستور خو دا دی، چې زورور به کمزوری وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي. مګر په کورونو کې د مینې او محبت تقاضا بل راز ده.

هلته یو کوچنی ماشوم خپل مشر ورور په څپېړه وهي او هغه ورته خاندي، یعني له ټولوڅخه کمزوری په ټولو زورور دی. ماته دغه کورنی دود او د ستور ډېر ښه ښکاري او له خدایه غواړم چې دا رواج عام شي.

په دې پوهېږم چې په هر کاله کې همدغه حال دی او په هره کورنۍ کې کوچنیان په لویانو زورور او زړور دي. د ګبر او ترسا په کاله کې هم د کوچنیانو زور چلېږي او جوړ د نا جوړه په مخکې منډې وهي، مګر چې د کورونوڅخه د باندې وګورو، نو بیا قوي په ضعیف مسلط دی.

د دنیا طبیعي قانون همدغه دی، چې غټان او لویان په وړو او بېوزلو سوك او څپېړه پورته کوي او د قوت خاوند به هېڅ تحمل او حوصله نه لري.

ددغه ظالمانه قانون د ماتولو له پاره چې خدای پاك څه شی پیدا کړ، هغه مینه او عاطفه ده. د مینې او محبت په نړۍ کې ضعیف او کوچنی د لوی او قوي ترڅپېړو لاندې نه دی، بلکې، کوچنیان په

لويانو حکومت کوي او د ورو پادشاهي ده. مور ښځه عاجزه بولو، مګر مينې او محبت ډېر زورور او پياوړي ددوی دخوښې او رضا تابع کړي دي.

څنګه چې په زړه زمانه کې ديوان د ښاپيريو تابع وو، اوس هم د قوت او قدرت خاوندان ددغه ضعيف او لطيف جنس په مقابل کې ډېر ضعيف معلومېږي.

که عشق او مينه په منځ کې نه وي نو د ديو او ښاپېری زور هېڅکله برابرنه دی. او يو ماشوم هېڅ وخت د سپين ږيرو په ږيره لوبې نشي کولای او نه د مشرانو په اوږو سپرېدلای شي.

که څه هم دده زور او د هغه زور برابر نه و، خو د ماشوم مينې او محبت دماشوم په پنجو کې دغه قوت اېښی و، چې يو لوی سړی يې په ځان پسې را ښکود، او هغه هم ځان نشو خلاصولای. که زما فکر صحيح وي نو قوت او قدرت هماغه د پخوا زمانې ديو دی او مينه هماغه ښاپېری ده، چې ديوان يې د فرمان لاندې وو.

که د مينې او عاطفې ماشوم د هر څنګه لوی سړي ګرېوان ته لاس واچوي يا يې لمن ټينګه ونيسي څوك ترېنه ځان نشي خلاصولای، ځکه چې دا قوت په ټولو قوتونو زورور دی.

زه مينه او عاطفه د زور او قوت په مقابل کې ځکه ماشومان بولم چې زور او قوت ډېر پخوا پيدا شوی دی، انساني عاطفه، انساني رحم او شفقت وروسته پيدا شول. يعنې هماغه شان چې فرعون له

موسیٰ ؑ څخه د مخه دنیا ته راغلی دی، حیواني غرایز هم له انساني عواطفو څخه ډېر پخواني دي او د عمر په لحاظ عواطفو ته کوچنیان ویلای شو.

مګر کوچنیانو ته پاك خدای ﷻ هغه قوت ورکړی دی، چې فرعون ترېنه په خوب کې هم وېرېږي او بد بد خوبونهویني. که څوك په دنیا کې د سولې غوښتونکی وي او غواړي چې د ناروا او ظلم مخه ونیسي، نو یوه داسې اختراع په کار ده، چې د عشق او مینې له عنصر څخه په کې کار واخیستل شي.

دا اختراع د دماغ کار نه دی، د زړه کاردی او د زړه توجه ته ضرورت لري. په دې باره کې ساینس او تخنیك ته رجوع نه ده په کار. دا افتخار که هر وخت دنیا ته حاصلېږي نو د شعر او ادب په لمن کې به وي او د زړونو په مملکت کې به پیدا شي.

(له غوره نثرونو څخه)

# صاحب

د جو انسار یوه شاعر څخه چا پوښتنه وکړه، دا رښتیا ده چې د جوانسار په علاقه کې خرس ته صاحب وایي؟

شاعر ځواب ور کړ:

بلې، صاحب!"

# حقــایـق

چاچې خپل قدر په خپله وکړ ګُله!
ستاره د هغـه قوم په عروج شوله

خدای هـم نـه بـدلـوي حال د هغه قـــوم
ځوك چې نه بدلوي خپل حالت په خپله

تا تـه ښايي په خپل لاس موقـع پـيـدا کـړې
انتظار د مـوقع چـېرې دانا نـه کړي

تــه نـازکړې چې بدل کړی زمانـــې يم
مرد هغه دی چې بـدلـه زمـانه کړي

مستقبل وحـــال حاصـل ستا د تد بير دی
ته جـهد وکـړه ستا په لاس کې ستا تـعبير دی

تا پـه خپله په ځان هسې چارې وکـړې
بر نا حق دې بـد نام کـړی خپل تـقـديـر دی

د حـاسد خونـه لـه غمـه خالي نـه شوه
طامـع چـېرې نصيب خـوشحالي نـه شوه

چې په کم نظر د خدای مخلوق تـه ګـوري
مرتبه د هـغـو خلکـو عالي نه شـوه

ګـوره ونـه په هغـو هم سيوری کانـدي
چې لـه بېخه يې وهـې په تـبر باندې

تــه سړی يې لـه دښمـن سره بـد مکړه
پـه احسان سره يې کـړه تر قـابو لاندې

چې سړی وي هغـه هېڅ وخت وزګـار نـه وي
د هـغـه ژونـدون په چا بانـدې بارنه وي

هـر يـو کار کـه تـه همت وکـړې آسان دی
کـار لـه دې کـاره ګـران نشته چې کار نه وي

(فضل احمد افغان)

# شمس النهار

وایي هغه وخت چې په (۱۸۶۸- ۱۸۶۹م) کال کې سید جمال الدین افغان مجبور شو، د دریم ځل له پاره خپل ګران هېواد افغانستان پرېږدي، نو امیر شېرعلي خان ته ورغی. وروسته تر هغه چې د تګ اجازه یې ځنې واخیستله یو څو مواد یې د اصلاحي پروګرام په شکل امیرته وړاندې کړل. یوه ماده یې په کابل کې د یوې جریدې د نشر ولو پیشنهاد و (۱).

امیرهم په ۱۲۹۰ هجري قمري) کال د یوې اونیزې جریدې له نشر سره د "شمس النهار" په نامه موافقه وکړه او په همغه کال هغه جریده خپره شوه.

د شمس النهار جریده په اونۍ کې یو وار په ۱۶ مخونو کې د کابل د بالاحصار په سنګي مطبعه کې چاپېدله. په لومړي مخ کې یې د شمس النهارکابل" عنوان د دوو زمریانو د رسمونو تر منځ لیکلی شوی دی، چې د دواړو زمریو په یوه لاس کې توره او په بل لاس کې یې د "شمس النهار کابل" عنوان نیولی دی.

---

۱ - آثار سید جمال الدین افغان، د قاضي محمد عبد الغفار تالیف په اردو ژبه – **۴۴** مخ.

شمس النهار مدیر نه درلود او د جناب میرزا عبدالعلي نومي په اهتمام خپرېده. دا ښاغلی خپله پته د "اطلاع ضروري" تر عنوان لاندې داسې لیکي:

"به خدمت صاحبان خریداران اخبار پر بهاء شمس النهار کابل واضح باد که از جهت قیمت اخبار هر گاه مبلغ عنایت نمایند بر سر نامه خط تحریر فرمایند که " خط هذا در بالاحصار کابل در مطبعه شمس النهار کابل به نزد میرزا عبدالعلي مهتمم شمس النهار کابل برسد."

په دې اخبار کې ځینې رسمي نطقونه او د هغه وخت مهم خبرونه خپرېدل چې ځینې په زړه پورې خبرونه یې دادي:

۱ – د شمس النهار له مضامینو څخه څرګندېږي، چې د امیر شیر علي خان په وخت کې افغانستان له خارج سره د پنبې او وړیو تجارت درلود. څرنګه چې قاضي عبد القادر شاهانه عسکري سکرتر په هغه وینا کې چې خلك یې کار او کسب ته تشویقول له افغانستان څخه د پنبې او وړیو صادرول هم یادوي او وایي:

"... پس این قسم عقاید نشان بد بختی ما مردم است که احسن امور را ترك نموده، عقب رسمیات می گردیم ونه خیال باید کرد

که پشم و پنبه از ولایات مایان به فرنگستان میرود و مردم مایان یکسال محنت و مشقت به کاشتن پنبه ورزیده به ادنی قیمت به دست اهالي فرنگستان میفروشند و صحن و نبات و حریر و غیره اقسام ملبوسات از ملك او شان در ملك مایان آمده به بسیاري مبلغ فروخته می شوند اینهمه از بیکمالي ما اهالي اسلام است اگر توجه به طرف صناعیات و کمالات میداشتیم جنس پیداوار ملك خود را که به ادنی قیمت فروخته باشیم بچگونه به قیمت بسیار از دست دیگر بخریم..."

۲- د شمس النهار له خبرو څخه څرګندېږي، چې د امیر شیر علیخان په وختونو کې سر بېره د کابل ماشینخانې یوه د توپ جوړولو ماشین خانه د هېواد په شمالي برخو کې هم موجوده وه.

د ترکستان نایب الحکومه محمد علم خان په خپل یوه لیك کې چې په شمس النهارکې چاپ شوی دی داسې لیکلي دي:

"... توپهای جدید ساخت کابل از پیشگاهی حضور عنایت شده بودند، رسیدند، نهایت اعلی درجه اند، چنانچه غلام هم حسب الحکم شهر یاري استادان پر فن این فن را از شهر های ترکستان جمع کرده باوشان حکم دادم که به نمونه این قسم دوسه توپخانه تیار کرده شوند..."

۳- په (۱۲۹۱ هـ ق) کال یې د یوې ډېرې سختې زلزلې خبر خپور کړی دی، لیکلي یې دي:

"د هغې زلزلې په اثر له پنجشیر څخه تر قره باغ پورې اووه زره او دوه پنځوس (۷۰۵۲) تنه مړه شوي او درې زره او نه سوه (۳۹۰۰) تنه ټپیان شوي دي. همدا شان په پروان کې یوزر او نه سوه (۱۹۰۰) تنه ټپیان شوي او په کابل کې څوارلس تنه مړه شوي دي او هم یې لیکلي دي چې د کابل په ښار کې اکثرو خلکو خېمې وهلې وې"

۴- د شمس النهار د لیکنې په اساس هغه وخت لکه څنګه چې ټولې عسکري قوماندې په پښتو ژبه وې، عسکري موزیك هم پښتو نغمې ږغولې، مثلاً هغه وخت چې د چترال د خان زوی نظام الملك کابل ته راغلی و نو امیر شیر علي خان امر وکړ:

"باجه های افواج دولت مارا که همه به زبان افغاني است ګوش نمائید!"

داسې زیات په زړه پورې مطالب او خبرونه په کې خپرېدل او سربېره پر هغه یې ادبي برخه هم درلودله، چې د هغه وخت د شاعرانو ځینې شعرونه به یې خپرول.

# معرف معارف

دا پـه افغانـستان کـې لـومړۍ معـارفي مجلـه وه، چـې د پـوهنې لـه وزارت څخـه د (١٢٩٨ هـ ش) کـال د سـنبلې د میاشـتې پـه لـومړۍ ورځ په کابل کې خپره شوې ده.

ددې مجلې قطعـه ډېره وړه او د معمـولي کاغـذ د يـوې تختـې اتمـه برخه وه. په لومړي کال کې يې دېرش مخـه او پـه دويـم کـال کـې يـې شپېته مخه درلودل.

دا مجله د ١٣٠١ هـ ش کال د ثور تر مياشتې خپره شوله.

د لومړي کال چلوونکی يې معلوم نه شو، خو د دويم کال چلوونکی يې ښاغلی محمد حسين د حبيبې د ښوونځي مدير او محرر يې ښاغلی حافظ امير محمد و.

سپارښتنې:

- ښوونکي دې له زده کوونکو څخه لاندې پوښتنې وکړي:
  1. مجله څه ته وايي؟
  2. کومې مجلې پيژنئ نومونه يې واخلئ.

# نازو انا

نـازو انـا د ملـي مـشر ميـرويس نيكـه مـور وه ددې مېـرمنې پـلار سلطان ملخـي تـوخي لـه غزنـي څخـه تـر جلدكـه پـورې د پښتنـو بـا نفوذه مشر تېر شوی دی.

نازو انا سربېره پر دې چې يوه با تدبيره او مېړنۍ ښځه وه د پښتـو له ادب سره يې هم زياتـه مينـه درلودلـه او پـه خپلـه يې هم شـعرونـه ويـل. دلتـه ددې لـه پـاره چې يـو ددې نوميـالۍ پښتنې پېژندګلوي وشي او بل د پښتو د يوه زاړه كتاب هغـه برخـه چې ددې ميـرمنې د پېژند ګلوۍ پـه هكلـه ليـكل شـوی دی، كټ مټ را نقلـوو: محمـد هوتك په (پټه خزانه" كې داسې ليكلي:

"... هسې نقل كا: نازو د سلطان ملخي توخي لور وه چې تولـد يـې پـه (۱۰۶۱) سـنه هجـري هغـه ځـای تـه نـژدې و، چې تـازی[۱] نومېږي سلطان ملخي پـه هغـه وخـت د غزنـي تـر جلدكـه د اقـوامـو مـشر و او پـه اسـتقلال يـې حكومـت كـا، معـارض او سـاری يـې نـه درلـود او نـازو پـه كوچنيـوالي لـه مېرمنـو د پښتنـو او سـپين ږيـرو

[۱] تازی ـ يو رباط دی د قلات او د قندهار تر منځ.

علماوو څخه لوست وکا او  مېړه مخې ارتينه وه چې نارينه يې مېړانې، شجاعت او سخاوت ته حيران وو.

روايت دی له ثقه راويانو چې: سلطان ملخی وسور غره ته نژدې په جنګ کې ومړ او حاجي عادل چې د نازو ورور و د پلار په انتقام جنګ ته ولاړ، کلا او کور يې نازو ته پرېښود او په هغه وخت نازو توره تر ملا کړه او د جنګيالیو ځوانانو سره يې کور او کلا له تاړاکه د دښمنانو وساتله.

ماته خپل پلار حکايت کا: چې نازو انا په مېلمستيا او د غريبانو مسافرانو په پالنه معروفه وه او هر وخت چې په ژمي به د مسافرانو قافلې راغلې د نازو پر کلا يې اړول، په سوو، سوو مېلمانه به يې روزل او دوی ته يې ډوډۍ ورکوله. چا چې به کالي نه درلودل لباس يې ورکاوه اود سخاوت نوم يې له خيبره تر کوسانه خپور شو.

نازو په حباله دښالم خان هوتك وه، چې د کرم خان زوی و او د هوتکو ښالم خيل چې نن ورځ پادشاهي د قندهار او اصفهان د دوی ده له دې شجرې طيبه څخه دي او نازو څلور زامن درلودل چې مشر يې حاجي مير خان (حاجي ميرويس خان) او نور يې عبدالعزيز خان او يحیٰ خان او عبد القادر خان دي.

هسې روایت کا محمد کاتب الحروف له خپله پلاره، چې:

نازو انا عابده، صالحه ښځه وه او خپلو زامنو ته یې ټول عمر په اوداسه شېدې ورکولې، او چې علیین مکان حاجي میر خان (حاجي میرویس خان) تولد شو خوب یې ولید ، چې:

شیخ بیټنی رحمة الله علیه ورته وایي: "دا زوی ښه تربیت که، چې لوی شي لوی کارونه به وکا او په زیارت د بیت اله به ځان مشرف کا او له نسله به یې پیدا شي پادشاهان چې دین به روښان کا."

نو حاجي میر خان چې وزېږید مور یې په دیانت او عبادت سره لوی کا او د دین فرایض یې ټول پر اووم کال وروښول او هر کله به یې ده ته نصیحت کا چې: "زویه! د شیخ بیټني نیکه له قوله ستا په مخ کې دي لوی کارونه. نو چې لوی شې د خدای عبادت او د خلقو خدمت کړه، ته خدای ﷻ پیدا کړې دې دپاره چې لوی کارونه تر سره کړې او خلق الله په خدمت ستا آرام وکا."

روایت دی چې: حاجي میر خان علیین مکان به هر وخت ویل، چې:

"زما مور ماته د لویو کارو وصیت وکا. زه باید هسې کارونه وکړم." په (۱۱۱۹ سنه هجري) چې یې قوم د ظالمانو د ظلمه وژغوره نو یې سجده د شکر وکړه او وې ویل:

خدایه دا هغه کار و چې ماته مور سپارلی و او وصیت یې کړی و دا خو ستا د بندګانو خدمت و چې ماتر سره کا!"

زما پلار هسې وویل چې: نازو انا علاوه پر سخاوت او شجاعت او عبادت هسې ارتینه وه، چې د خدای تعالی ﷻ په مناجات یې ډېر اشعار وویل او یو دېوان یې درلود چې دوه زره بیتونه په کې وو او هلته یې ښه نکات اداکړي وو او داسې یې ویلي وو چې نارینه یې هم نه شي ویلی او دغه څلوریځه چې د نازو انا ده ما له خپله پلاره اورېدلې وه الحق چې ښه څلوریځه ده:

سحر ګه وه د نرګس لیمه لانده

څاڅکي څاڅکي یې له سترګو څڅېده

ما ویل: څه دي ښکلیه ګله ولې ژاړې؟

ده ویل: ژوند مې دی یوه خوله خندیده

تر دې ځایه پورې د پټې خزانې لیکنه وه، کټ مټ راوړل شوه. که موږ پورتنۍ څلوریځې ته دقیق شو نو ددې مېرمنې فلسفې لوړ افکار ښه په کې ځلېږي. ژوند، مرګ او دې دواړو ته د خوشبینۍ او بد بینۍ نظریه یې ښه تصویر کړې ده.

# ښځــه

" ښځه ستاسې لباس ده تاسې د ښځو لباس یاست."      " قرآن کریم"

" ښځه ستاسې کرنه ده! "      " قرآن کریم "

" په هرکور کې، چې ښځه نشته خوښي او رڼا هم وجود نه لري."

(رسول اکرم ﷺ)

" خدای ﷻ پر هغو ښځو خپل رحمتونه اوروي چې د ژوندون له ټولو مشقاتو سره د خپلو لوڼو او زامنو په روزنه کې کوتاهي نه کوي او یوه شېبه هم دوی ته په تریو تندي نه ګوري."      (رسول اکرم ﷺ)

" لوی څښتن ښځه رقیق القلبه او حساسه پیدا کړې ده نو له دې امله یې د دوی احترام او رعایت پر نارینه واجب کړی دی.

(رسول اکرم ﷺ)

" ښځه د ژوندون ملګرې ده او د درماندګۍ په وخت کې ښه غم شریکه ده."

" که ښځه نه وای د دنیا نوابغ به چا روزلي او پاللي وای؟ "

"بونا پارت"

"د ښځو غېږ د بشر لومړی ښوونځی او د انسان جوړولو لومړی کارخانه ده."      (ولتر)

"ښځه خدای تعالی د نر په شان ښه پیدا کړې ده، نو پرې یې ږدئ چې دا لطیف موجود او دا د زمانې د نوابغو پالونکې هم همغسې ښه ژوند وکړي." (مانتسکیو)

په هر کور کې چې مېرمن نشته د سعادت فرشته هلته قدم نه ږدي."

(لوی سکندر)

---

**سپارښتنې:**

- ښوونکی دې د اسلام له نظره په ټولنه کې د ښځې د حقونو او دندو په هکله معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې په ټولنه کې د ښځې د حقونو او دندو په هکله یوه مقاله ولیکي.
- زده کوونکي دې پورتنۍ له ارزښت څخه ډکې ویناوې له یادو زده کړي.

# ارشاد النسوان

د (۱۲۰۰ هـ شمسي) کال د حمل د میاشتې په اوله د پنجشنبې په ورځ د لومړي ځل له پاره په کابل کې د مېرمنو مخصوصه جریده د "ارشاد النسوان" په نامه خپره شوه.

دا جریده مخصوصه د مېرمنو له پاره وه چې په خپله د مېرمنو له خوا اداره کېدله.

مدیره يې محترمه مېرمن (اسما رسمیه) د ښاغلي فاضل محمود بیګ طرزي ماندینه وه، چې د اخبار په تندي يې په مخفف ډول خپل نوم (ا- ر) لیکه. همدا شان يې د سر محررې نوم په مخفف ډول (ر- ا) لیکلی شوی و چې مطلب ځنې مېرمن "روح افزا" د جناب محمد زمان خازن الکتب لور وه.

دا جریده په هفته کې یو وار د هرې پنجشنبې په ورځ د کابل د ده افغانانو په "کاروان سرای" کې پر نازك پسته يي رنګه کاغذ په سنګي چاپ خانه کې چاپېدله، چې د جریدې نوم او عنوان د یو کتاب، د یوې تورې او یو خول تر رسم لاندې لیکل شوی او دا خول بیا د غنمو د دوو وږو په منځ کې رسم شوی و.

لومړی دا جریده په څلورو مخونو کې چاپېدله، خو تر دوولسمې ګڼې وروسته په اتو مخونو کې خپرېدله.

د ارشاد النسوان موضوعات که څه هم متنوع وو، خو بیا هم ټولو موضوعاتو د ښځو په ژوندانه پورې اړه درلودله، لکه د ښځو مشروع حقوق، د ښځو روغتیا، اخلاق، پخلی، خیاطي، د کوچنیانو روزنه، کورنی چارې، د معاشرت طرز او نور اطلاعات.

د لیکلو طرز یې ډېر ساده او روان و او زیات کوشش شوی و، چې د مضامینو په ټاکلو کې د افغاني محیط اقتضاء او د افغاني مېرمنو ژوند په نظر کې ونیول شي.

په افغانستان کې دا لومړۍ جریده وه، چې خاص د مېرمنوله پاره د مېرمنو له خوا اداره شوې ده.

د ارشاد النسوان اخبار په اوومې ګڼې کې لیکي چې:

د (۱۳۰۰ هـ شمسي) کال د حمل په یو دېر شمه د چهار شنبې په ورځ په قلعه باقرخان کې د نجونو یو ښوونځی د "عصمت" په نامه افتتاح شو.

همدارنګه لیکي چې د عصمت تر ښوونځي درې نیمې میاشتې وروسته د کابل شهرارا ته نږدې د (مستورات) په نامه یو بل ښوونځی پرانیستل شوی و.

**(په افغانستان کې د مېرمنو لومړی اخبار)**

---

**سپارښتنې:**

- ښوونکی دې له څو زده کوونکو څخه د ارشاد النسوان اخبار په هکله معلومات وغواړي.
- زده کوونکي دې له ښوونکي څخه د (ارشادالنسوان) د لفظ معنا وپوښتي.
- تاسو دې اخبار ته بل نوم ورکولی شئ؟

# مین او شاعر

مین یوازې د ځان د پاره ژاړي او د ځان له پاره لیونی وي، خو شاعر د بشري ټولنې دپاره عموماً او د خپل ملت له پاره خصوصاً ناري وهي او له غمه یې لیونی وي.

مین د خپلې معشوقې په یاد پر بیابانونو د مجنون غوندې لوڅ سر اولوڅې پښې آزاد ګرځي، خو شاعر ډېر ځله د خپل ملي ایډیال او لوړ مقصد له پاره زحمتونه ګالي او د ملت د لوړتیا له پاره د زړه وینې خوري.

مین په شپو شپو دیوه ښکلي مخ له غمه ویښ وي، خوب نه ورځي، خو شاعر د یوه قام او ملت د ویښولو له غمه په شپو شپو ویښ وي او فکرونه وهي.

هو! (مجنون) مین و خو (هوګو) شاعر.

مین ته نور لار ښیي او سمې لارې ته یې رابولي، خو شاعر نورو ته لارښوونه کوي.

لکه هرې مینې ته چې شعر نه شو ویلای همداسې ضروري نه ده چې هر مین شاعر وي.

حقیقي مینه او عشق په دوو زړونو لوبې کوي، مګر حقیقي شعر ملتونه له یوه حاله بل حال ته اړوي.

مینه او عشق د مینانو په اصطلاح له زړه سره کار لري، خو شعر د عارفانو په اصطلاح له روح سره.

که مینه تش کالبوت وبلل شي، شعر هغه ته ژوند او خوند ورکولای شي، خو شعر بې عشقه هم ژوند او خوند لري.

د لیونۍ مینې انجام لیونتوب دی خو دلیوني شعر انجام ویښتوب. مین دې یوازې ژړوي، خو شاعر دې هم خندوي او هم ژړوي.

مین د ښکلا او جمال سره ازدواج کول غواړي، خو شاعر یې ستایي او ننداره یې کوي.

مین له اجتماع او ټولنې څخه تښتي، مګر شاعر خلك پر ځان را غونډوي او له احساساتو څخه یې د بشر د سعادت له پاره کار اخلي.

(ګل پاچا الفت)

# د مینې اور

یوه سړي وویل چې: زما ورور د مینې په اور کباب شو!

هغه بل ورته وویل: په کور کې یې د اوبو ډکه ویاله بهېږي ځان دې ور واچوي!

# پیر روښان

هغه وخت چې شېرشاه سوري د پښتنو ننګيالی پاچا په هندکې تر پنځو کالو پاچهۍ وروسته وفات شو. د ظهيرالدين بابر زوی همايون بيا وکړی شول چې هند ته ولاړ شي، خو ژوند يې وفا ونه کړه. تر يوه کال وروسته مړ شو او دده څوارلس کلن زوی اکبر دده پرځای د سلطنت پر تخت کېناست.

اکبر هم د خپلو پلرونو په شان له پښتنو سره مخالفت پيل کړ او په ۱۵۸۶ ع کال يې يو لوی لښکر د خپل رضاعي ورور (زين خان کوکه) او (راجا بيربل) په سالارۍ د اټک خواته را واستاوه چې پر افغاني خاورې تيری وکړي. دا لښکر تر باجوړه را ورسېد، دلته د افغانانو له سختې مقابلې سره مخامخ شو او تر سختو جګړو وروسته يې ماته وکړه. اته زره تنه سپاهيان او څو تنه سرداران يې چې په خپله (راجا بيربل) هم په کې و، د پښتنو په جګړه کې مړه شول او زين خان کوکه او نور سپاهيان د شپې په تياره کې وتښتېدل او په ډېر بد حال د اکبر دربار ته ورسېدل.

په ملي مجاهدينو کې چې د پرديو د تېرې پر خلاف په ډېر ټينګ عزم جنګېدل يو هم پير روښان و.

دده اصلي نوم (بايزيد) او د پلار نوم يې عبدالله، په قوم اورمړ او په دې وخت کې د اوسني پښتونستان په "کاڼي ګرم" کې اوسېده.

پير روښان چې مخالفينو يې ورته "پيرتاريك" وايه د هغه وخت متداوله علوم يې له ملا سليمان کالنجري او ملا پاينده څخه ولوستل. بيا د فلسفې د تحصيل او د تصوفي معلوماتو د بشپړولو له پاره هند او ماوراء النهر ته ولاړ.

پير روښان داسې وخت هېواد ته راغی چې پرافغاني ځمکه د پرديو تيري کوونکو يرغلونه وو، نو ځکه پير روښان چې يو حساس عالم او ويښ روحاني و دا يې ونه شوه زغملای چې پردي دې د ده پرخاوره باندې تېری وکړي او دی دې آرام کښېني، نو په ښکاره يې له تېري کوونکو سره د مخالفت اعلان وکړ.

څنګه چې پير روښان له روحاني نفوذ سره تدبير او سياست هم درلود نو ډېر پيروان او آزادي غوښتونکي يې پر ځان راغونډ کړل

او په عوامو کې يې د متجاوزينو او تېري کوونکو پر خلاف په تبليغ پيل وکړ چې د "حيات افغاني" دمؤلف په قول ده خپلو پيروانو ته ويل چې:

"... متجاوزين ظالمان دي، زموږ سره بې نهايته ستم کوي. نو لازمه ده چې افغانان دپرديو د اطاعت کړۍ غاړې ته وانه چوي او خپله آزادي دې وساتي!"

په دې ترتيب يې د استعمار په مقابل کې د پښتنو په نارينه او ښځو کې د تنفر روح ډېر تقويه کړ.

پير روښان لومړی پېښور او بيا اشنغر ته ولاړ او هلته يې د ملا دولت مومندزي په همکارۍ د کابل دمغلي صوبه دار پر ضد په تبليغ او ملي تحريك سره راووت او د جلال آباد له لارې يې پر اشنغر حمله وکړه او تر سخت جنګ وروسته يي پير روښان په لاس کښېووت او بندي يې کاله ته بوته. خو ډېر ژر د آزادۍ غوښتنکو په مرسته له زندانه وايستل شو او بيا يې د متجاوزينو پر خلاف په جد و جهد شروع وکړه.

تیراته ولاړ او د هغه ځای پښتانه یې د متجاوزینو په مقابل کې پاڅول او له متجاوزینو سره یې سخت جنګونه وکړل، په پای کې د شینوارو د سیمې" تور راغه" ته نژدې په "کالاپایي" نومي ځای کې په داسې حال کې چې متجاوزینو سره جنګېده، جل وواهه او له تندې مړ شو. د ده د مړینې نېټه د (۹۹۰ هـ او ۹۹۴ هـ) تر منځ اټکل شوې ده او قبر یې په اشنغر کې دی.

پیر روښان سربیره پر دې ښه عالم او پوخ لیکوال هم و. ځو کتابونه یې لیکلي دي چې یو له هغو څخه "خیر البیان" دی چې په څلورو ژبو: عربي، فارسي، هندي او پښتو یې لیکلی دی او دپښتو ژبې د ادب په تاریخ کې ډېر ارزښتناک اثر دی. دا کتاب اوس په پېښور کې چاپ شوی دی.

## سپارښتنې:

- ښوونکی دې د پیر روښان پر ادبي خوا زده کوونکو ته معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې لکه د پیر روښان په څېر د هېواد د نورو مشاهیرو نومونه واخلئ.

# د عینو کاریز

د کندهار ښار ته نژدې یو کاریز دی چې "د عینو کاریز" یې بولي. عینو یوه ننګیالۍ پښتنه مېرمن وه چې د احمد شاه بابا په وختو کې یې ژوند کاوه. وایي: کوم وخت چې احمد شاه بابا د هندوستان په یوه سفر تللو نو ددې مېرمنې مېړه هم د احمد شاه بابا په عسکرو کې هغه خوا ته ولاړ.

خو احمد شاه بابا چې له هغه سفره بېرته بریالی او فاتح راوګرځېد او د قندهار ښار ته نژدې یې امر وکړ چې هلته شپه تېره کړي او سبا د ورځې په ښکاره په شان او شوکت ښار ته ننوزي، نو د مېرمن عینو مېړه د شپې په پټه تر نورو لښکرو د مخه خپل کور ته ولاړ. د کور دروازه یې وټکوله، مېرمن عینو دروازې ته ورغله او وې پوښتل: "څوك یې؟"

سپاهي خپل ځان ورته معرفي کړ. هغې مېرمنې بیا وپوښته چې: "څنګه راغلې؟ احمد شاه بابا څه شو؟ لښکر مو بریالی شو؟"

مېړه یې ورته وویل: "که مو لښکر بریالی شوی نه وای نو زه به هم تا ته ژوندی نه وای راغلی، د پښتنو لویه سوبه او فتح په نصیب شوې ده..."

عینو بیا پوښتنه وکړه: "نو ته ولې یوازې راغلې؟ نور لښکر څه شو؟"

مېړه ورته وویل: "نور لښکر ښار ته نژدې د بابا په امر پروت دی چې سبا د ورځې په رڼا کې ښار ته ننوزي، زه ستا مینې نا قرار کړم

او ترهغو د مخه راغلم اوس ژر دروازه را خلاصه کړه چې سره ووینو..."

عینو ورته وویل: "ته تر چا نازولی وې چې ملګري دې پرېښودل او د بابا د امر پرخلاف را دمخه شوې او ما ته راغلې؟ آیا ستا نورو ملګرو ښځې نه درلودلې؟ او که یې په سینو کې زړونه نه وو؟

دا ټول وو. خو هغو نه غوښته چې د بابا د امر مخالفت وکړي... که سبا نورې پښتنې مېرمنې خبرې شي ما ته به څه وایي؟ دا ډېر لوی پېغور دی، هېڅکله تاته دروازه نه خلاصوم، ځه ولاړ شه! تر هغو زما دیدن پرتا حرام دی څو بېرته ولاړ نه شې او سبا د احمد شاه بابا تر بیرغ لاندې د خپلو نورو ملګرو سره یو ځای رانه شې!"

د عینو مېړه د خپلې ننګیالۍ ماینې له پیغوره وشرمېده، بېر ته ولاړ، خو خیمې ته نژدې پیره دارانو ونیو او سبا دده عسکري مشر د احمد شاه بابا حضور ته وروست او عرض یې وکړ چې دا سپاهي دشپې بې له اجازې کورته تللی و.

احمد شاه بابا پوښتنه ځنې وکړه، عسکر هغه څه چې لیدلي او اوریدلي وو ټول ورته عرض کړل.

احمد شاه بابا د هغې پښتنې پر پښتنواله او افغاني روح باندې آفرین ووایه او د هغې په خاطر یې ددې عسکرګناه هم معاف کړه او مېرمن عینو ته یې دغه کاریز ور وباښه چې تر اوسه پورې د عینو په کاریز مشهور او د کندهار د ښار لمر خاته خواته یو رباط لیرې پروت دی.

# د یتیم آرزو

ژړل یې...

مګر نه د دې دپاره چې خولۍ یې زړه وه، اویا یې د اختر په شپه ګلالي کالي له اوتو پاته شوي وو...

دا یې یو هم نه درلودل.

نو ولې یې ژړل؟ څه آرزو یې وه؟

د اختر ورځ وه، لوی او کمکیان هوسېدل په تېره بیا دده همزولي په خندا خندا نڅېدل او ټوپونه یې و هل مګر ده چې له سهاره په ژړا پیل کړی و، لایې ژړل، او هره ګړۍ چې به یې پلار او زوی په خندا سره ولیدل دده تاثر به ډېرېده...

دا ځکه چې ده په دې نړۍ کې فقط یوه کلمه خبره غوښته چې شوق یې ورته وکړي، خو له بده مرغه یې له هیچا څخه هغه کلمه نه اورېدله... دا کومه کلمه وه؟

هغه دا چې یو سړی راشي دده پر سر لاس تېر کړي او ورته ووایي:

"زویه!"

ځکه چې ده پلارنه درلود او نورو ده ته دزوی په سترګه نه کاته همداسې تېرېدل...

نو، اې دښه زوی ښتنه! د خپل نازولي زوی سترګوته وګوره خدای دې ستا ګلالی زوی له داسې ورځې څخه لیرې لیرې ساتي...

راشه، د مخه تر هغه چې ستا زوی همدې یوې کلمې ته اړ شي پردې بې پلاره او بې وزلي یتیم رحم وکړه او د خپل زوی په څېر یې غېږې ته در نژدې کړه او ورته ووایه: "زویه!"

هو حمید بابا وایي:

د هغه لســـــتوني لاس ید بیضا دی
چې پرې وچې کاندي اوښکې د یتیم

**د اختر یوه خاطره**

(ګل پاچا الفت)

سپارښتنې:
زده کوونکي دې د خپلو همزولو یتیمانو سره په مینه چلند وکړي.
زده کوونکي دې د خپلو پلرونو څخه هیله وکړي چې د یتیمانو سره په مهربانۍ چلند وکړي.

# زرغونه انا

زرغونه انا د اعلیحضرت احمد شاه بابا مور وه او لکه احمد شاه بابا چې د "بابا" لقب ورې دی، همدغه رنګ دې پښتنې مېرمنې ته د "انا" لقب ور کړ شوی دی.

زرغونې انا تل له خپل ننګيالي زوی سره په ښو ښو کارونو کې مرسته کوله او لکه څنګه چې يې په خپلو پاکوشيدو خپل زوی په پښتنولې سره لویاوه همدا شان يې په خوله هم د افغانيت درس ورکاوه.

په (۱۱۷۴ هـ) کال چې احمد شاه بابا د پښتنو مشران او نور ارکان راوبلل چې د کندهار د نوي ښار د جوړولو لپاره يوه سمه نقشه طرحه کړي، نو تر ډېرو نظريو وروسته يې دا نظريه خوښه شوه، چې ښار بايد اووه دېوالونه او څو خندقه ولري چې ددښمن له حملې خوندي شي. زرغونې انا چې دا خبره واورېدله نو احمد شاه بابا يې کورته راوغوښت او ورته يې وويل:

"زويه ! دا خبره ټينګه په غوږ کې ونيسه چې پښتون هېڅکله د خاورو په دېوالونو ځان نه ساتي او نه په خندق ځان له غليمه

خوندي کوي... افغان د خدای په مرسته او د افغاني روح په قوت او په خپل غښتلي مټ ځان او هېواد ساتي نو ته افغان يې په خپل افغاني همت او استقامت ځان، قوم او هېواد ساته، خوشې د ېوالونه او خندقونه مه جوړوه!!

په دې د ېوالونو به يوازې زه او ته او څو ښاريان خوندي شو. خو آيا هغه افغاني  خويندې او افغان وروڼه چې ددې ديوالونو او خندق و هغه خواته دي ستا څخه ساتنه نه غواړي؟؟

او بل دا چې ته بايد دومره انتظار ونه باسې چې دښمن تر ښاره پورې را ورسېږي!!

هغه و چې د احمد شاه بابا له مغزو څخه هغه تېره نقشه ووتله او يوه معمولي کلا يې جوړه کړه.

همدا شان روايت کوي چې: په ۱۱۷۴ هـ کال د احمد شاه بابا د ماتې غږ په دروغو قندهار ته ورسېد. خلك د احمد شاه بابا له ماتې او د عسکرو د پو پناکېدو له آوازې څخه وار خطا ښکارېدل، څو چې دا خبره زرغونې انا ته ورسېدله، دې مېرمنې وويل:

"برى او ماتې د تقدير په لاس دي، مګر "احمد" ځان وژني خو ماتې نه کوي!"

زرغونه انا د الکوزو ټبر ته منسوبه وه که څه هم د دې انا دمړينې تاريخ پوره څرګند نه د ی خو داسې ښکاري چې تر (۱۱۷۴ هـ د قندهار د ښار د جوړېدو ترتاريخ) وروسته او د احمد شاه بابا په ژوند وفات شوې ده مزار يې د ارغنداو د رود په غاړه د "کوهك" په کلي کې دی.

# ريګويدا

زوړ آريايي کتاب دی، چې د ۱۰۰۰- ۲۰۰۰ قبل الميلاد په منځ کې ليکلی شوی دی.

په دې کتاب کې يې د ښځو په هکله داسې ليکلي دي:

"له ډېرې پخوا زمانې څخه تر اوسه پورې ښځه د قربانۍ په وړاندې کولو او د مذهبي قوانينو په خپرولو کې پوره او کامله توجه لري او ښځه ده چې مقدس قانون ساتي او پرورش ور کوي!!"

# د بدیع برخه

**د بدیع علم:**

بدیع د عربو په لغت کې نوي شي ته وايي او د ادبیاتو په اصطلاح بدیع د ادبي علومو څخه داسې علم دی، چې د هغه په واسطه د کلام د ښه والي وجه څرګندیږي. ددې علم واضع عبد الله بن معتز دی او وروسته له دې څخه نورو پوهانو ددې علم له پاره کار کړی دی.

بدیع دوه ادبي برخې لري: لفظي او معنوي: لفظي هغه ادبي صنعتونه دي چې د لفظ رعایت په کې کیږي او معنوي صنایع هغه دي چې د معنا رعایت په کې کیږي.

**توشیح:**

هغه ادبي صنعت ته ویل کیږي چې شاعر خپل شعر داسې جوړ کړي چې د هغه شعر د بیتونو یا مسرو لومړي توري سره یو ځای شي له هغه څخه نوم، مسره، بیت یا کومه جمله جوړه شي لکه په دغه لاندنې شعر کې:

ګمراهانو سره مه ګډوه ځان — فرمایلي دي نبي آخر زمان
له فضولو بد کارانو صحبت مه کړه — بل خبرې ته غوږ مه ږده دنادان
مدام ګرځه په مجلس کې د نیکانو — قایم اوسه په خپل دین کې مسلمان
له ګناه به منزه وي هغه څوك — چې ثنا صفت تل وايي په زبان
ورکول بل ته د خدای په نامه ښه دي — په قرآن کې داسې وايي پاك سبحان

که د ې ګنج لکه قارون په دنیا ډېر شي
بې کفنه توښه نشې وړی د ځان

پورتنی شعر چې ګل ملوك پرخپل نامه ویلی دی که د ټولو بیتونو لومړي توري یې سره یو ځای شي (ګل ملوك) ځنې جوړېږي.

## سوال او ځواب

هغه صنعت ته وایي چې شاعر په خپل کلام کې پوښتنې او ځوابونه سره یو ځای کړي لکه پیر محمد (کاکړ) چې وایي:

وې مې زلفـــې دې پر مـخ ولـې تاوېږي؟
وې نوروز دی شپه او ورځ سره سمېږي

وې مې وروځې دې لینده بانه دې څه دي؟
وې ناوك دی د عاشــق په زړه څرخېږي

وې مې سترګې دې ترکومه خونخواري کا؟
وې دا بازد ښکار په وینو نه مـړېږي

وې مې ماته ستاد غاښو تعریف وکړه؟
وې ږلۍ ده په لاله کې چــې ویلېږي

وې مې خال دې په مخ څه وته ښــکاره کړ؟
وې یو داغ دی پر سینه ږدم چې یادېږي

وې مې ووایه عـلاج د ژړا څــه کـړم؟
وې باران د رحمت ښه دی چې اورېږي

وې مې څه رنګ بیلتانه له ما جدا کړې؟
وې روح څه رنګ له قالبه جدا کیـږي

وې مې زه د رقیب ظلم په عذاب کړم؟
وې پاداش د خپــل عمل درته رسېږي

وې مې خوار شو پیر محمد په عاشقۍ کې؟
وې پرما چې مینه کړي هغـــه خوارېږي

# ارسال المثل

که شاعر په خپل کلام کې کوم مشهور متل راوړي هغه ته ارسال المثل وايي لکه په دې بيتونو کې:

وايي زوی او لور تر پښو او به تر حلقه | فراموش په بیلتانه ځان او جهــان شي
چې اور بشي کري کله غنم کیـــږي | دي رښتيا چې څه کرې هغـه به ريبې
وصل وهجرد يـار دواړه ورور اوخـور دي | پـــه دنيا کې بې زحمته راحت نه وي

# کیسۍ (لغز)

چې د يوشي خواص، صفات او نورې نښې وښودل شي او د دغو خواصو او نښوله مخې لـه مخاطب څخـه د هغـه شـي د ښوولـو پوښتنه وشي لکه:

له پاســـه راغی سور بلوڅ | اغوستی يې پنځه پنځوس
سور دی ســندوخــك دی | له ســـــرو غميـو ډك دی

له لومړۍ کیسۍ څخه مطلب (پیاز) او له دويمې څخه مقصد (انار ) دی.

# معما

معما دې ته وايي چې کوم نوم، نيته يا کوم بل مطلب په شعر کې پټ او په رمز راوړل شي، لکه:

څو چې نيم لب يې نمك اخيستی نه دی    د يونس نمکي اسم پرې حرام شه

لب د ابجد په حساب (۳۲) او نيم يې (۱۶) کېږي. نمك د ابجد په حساب (۱۱۰) کېږي، چې ټول سره يو ځای شي (۱۲۶) ځنې جوړېږي. د يونس نوم هم د ابجد په حساب (۱۲۶) کېږي. دا لاندې معما د (مجيد) په نامه ده:

چې لاس پورې شي په مخ د ګلبدن    له غيرته يې خال پريوزي په لمن

په عربي کې لاس ته (يد) وايي. په (مخ) چې (يد) پورې شي، (مخيد) ځنې جوړېږي د (خ) ټکی چې په پورتني شعر کې (خال) بلل شوی دی، که لاندې راولوېږي، له (خ) څخه (ج) جوړېږي او په دې توګه د (مجيد) نوم لاس ته راځي.

# تجنيس

هغه صنعت ته وايي، شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې راوړي، چې شکل يې يو او معنا يې بېله وي، لکه داؤد خان چې وايي:

چې د چا په زړه کې اور د مينې بل شي      په اوربل يې لمبې ګډې حال يې بل شي
اور د مينې کله مري د زړه لـه مينې      د اوربل مينه که تل د زړه په تـل شي

**تجنيس په پښتو کې اووه ډوله دی:**

**۱- تام:** هغه تجنيس ته ويل کېږي شاعر په خپل کلام کې دوې داسې کلمې راوړي چې شکل يې يو او معنا يې بېله وي، لکه:

چې يې دم د محبت راباندې پو کړ      هغه دم مې لاس او پښونه وخوت دم

سردار مهر دل خان مشرقي په د غه صنعت کې يو غزل لري.

پلو واخله له سپوږمۍ مخه مېرمنې      ستا بې مخه راتـه شپې دي ورځې سپينې
ستا له وره تلـلی نه وای هـوری دورې      درته ناست يم په دربار پرې مې دي سپينې
درست بدن مې د بيلتون په اورکې وريت شو      په ګوګل کې مې ويلېږي تـورې سـپينې
راته وګوره رقيـب سـپک په څـه شان کړم      خدای دې سپک کړي ستا په مخ ودې وزې سپينې
زه پښتـون يـم نه ويربږم لـه رقيـبه      ورته وبه کړم بيا ښې ښې سپينې سپينې

مشـرقي دې په تيـاره د بيـلتون ژاړي
ورته لمر د مخ ښکاره کړه په مخ سپينې

سپينې په لومړي بيت کې د ور ځو صفت دی په دويم بيت کې د پښې د شاپلې يا دوي. په دريم بيت کې د تورو او سپينو غوښو

معنا ورکوي. په څلورم بیت کې د سترګو او په پنځم بیت کې رښتیا او سپینو خبروته وایي او په شپږم بیت کې معشوقې ته خطاب دی چې مخ یې سپین دی.

## ۲- ناقص:

هغه تجنیس دی چې د متجانسو کلمو شکل یو او معنا یې بېله وي. مګر په حرکاتو کې هم توپیر ولري، لکه:

د یار غم راسره څه وایم چې څه کړي | تل مې وینې د زړه روي لکه روې
چې پخوا تر قضا خپله رضا غواړې | بیهوده په لو تو ولې آسمان ولې؟

## ۳- زاید:

چې د متجانسو کلمو څخه د یوې کلمې په سر یا منځ، یا پای کې یو توری زیات راشي، زاید تجنیس بلل کېږي، لکه:

خوب له یاره سره هم د عاشق نشي | چې یې یار په بل د یاروي څه به خوب کا
د جهان په مخ به ډېر وي ښه مخونه | ولې زړه مې ستا ومخ ته وکړه خونه
د دنیا خاني میري په زور و زر شي | عاشقي په نور څه نه شي په خپل سر شي
هېڅ روغي مې ستا له زوره په زړه نه شته | ببلوې په ژړا ژېړ مین له یاره

## ۴- مرکب:

هغه تجنیس ته وایي، چې له متجانسو کلمو څخه یوه کلمه بسیطه اوبله مرکبه وي. مرکب تجنیس دوه ډوله دی، یو متشابه مرکب او بل یې مفروق مرکب بولي.

**الف- متشابه مرکب**: هغه مرکب تجنیس دی، چې بسیطه او مرکبه کلمه دواړه یو ډول شکل ولري، یعنې مرکبه کلمه هم د بسیطې کلمې شکل ولري لکه احمد شاه بابا چې وایي:

ستا پر مخ باندې اوربل دی　　　　ځکه اور بل مې په ګوګل دی

په لومړۍ مسره کې (اوربل) د تندي ویښتانو ته وایي او یوه بسیطه کلمه ده مګر په دوهمه مسره کې (اوربل) له "اور او "بل" څخه مرکبه کلمه ده.

(اور) بیله او (بل) بیله معنا لري لکه عبد القادر خان ختک چې وایي:

خوږ نظر چې کله وکړي ساقي ماته　　　　هغه دم مې صد ساله توبه شي ماته

**ب- مفروق مرکب**: هغه مرکب تجنیس ته وایي چې بسیطه کلمه د بسیطې او مرکبه کلمه د مرکبې کلمې شکل ولري لکه په دې بیت کې:

چې په سترګو ځراغ وویني پتنګ　　　　څو نه مري له ژوندونه وي په تنګ

## ۵- مکرر تجنیس:

هغه دی چې شاعر د خپلو بیتونو په پای کې دوی داسې متجانسې کلمې څنګ په څنګ راوړي چې د لومړۍ کلمې په سر کې یو یا څو توري زیات راشي. یا د لومړۍ کلمې د وروستۍ برخې له

تکرار نه بله متجانسه کلمه جوړه شي لکه میرزا خان چې وایي:

پر کبلیو باندې رحم د سپو نشي        درقیب لاسونه مشه په دلبر بر

پیر محمد کاکړ په دې صنعت کې یو خوندور غزل لري.

بوی د زلفو چې مې تیر شو تر مشام شام        وبلبل ته مې د زړه ږدي ګل اندام دام

پر چشمانومې د برق په دود تېرېږي        پر آب ګاه مې یو دم نه شو خوش خرام رام

خراب دل زما تلاش ورپسې کاندي        موندہ نه شي په تلاش او په نا کام کام

هر ساقي چې یو قدح د میو راکړي        ډك له وینو مې د زړه کړي سرانجام جام

ډېر مې وصل ته د هجر زحمت وکیښ        هنوز نه شي د غمونو اختتام تام

په خندا به سور کفن له قبره پاڅم        دا مسیح که مې لره واخلي په دشنام نام

له دیداره یې محروم پیر محمد مشه

هغه ورځ چې دلربا کا دا انعام عام

## ٦- مطرف:

هغه تجنیس ته وایي چې د متجانسو کلمو نور شکل یو وي مګر په یوه توري کې سره بېل وي لکه:

د یار یاد لکه صیقل زړه پرې صفا کا        آینې دې د خاطر ونیوه زنګ

تا چې رنګ د میو ورکړ دلبانو        اور دې پورې کړ په کور د میخوارانو

### ۷- خطي:

هغه دی چې، متجانسې کلمې په خط کې سره یو شی وي یعنې پرته له ټکو څخه یو ډول شکل ولري لکه:

| | |
|---|---|
| چې په تورو سترګو تور رانجه شي پورې | له یوې تورې بلا پاڅي سل نورې |
| تل د بل پاسبان د خپل صورت پاسبان وي | حلقه وګوره په دا تر ځان چاپېره |
| عبادت په ظاهر شکل عیادت دی | په نقط تر عیادت زیات عبادت دی |

## تلمیح

هغه صنعت ته وایي چې شاعر په خپل کلام کې کومې مشهورې کېسې یا پیښې ته اشاره وکړي نو که سړی په هغه کیسه یا پېښه پوه نه وي د شعر معنا ورته ګرانېږي لکه:

د دنیا په دښمنۍ کې عیسی وخوت و آسمان ته

په دوستی کې یې لاځي تحت الثراته قارون هسې

تل په تار دې د زلفینو اویزان یم

د هاروت په څېر په څاه د زنخدان ستا

نشته بوی ستا د کمیس په درست جهان کې

څه امکان لري په مصرو په کنعان کې

## طبــــاق

دغه صنعت ته تضاد یا تقابل هم وایي هغه دادی چې شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې راوړي چې یوه له بلې سره متقابلې وي لکه:

تور او سپین، شپه او ورځ، هجران او وصال یا داسې نور. ددغه صنعت مثالونه دادي:

مرګ له تندې په مذهب زما بهتر دی

نه ژوندون د دون همتو په اوبو

هر سحر سترګې د ګل په اوښو ډکې

په دا باغ کې بې ژړلو خندا نشته

ګلرخان ګهې جفا ګهې وفا کړي

نه کړي تا غوندې هېڅکله جفا تل ځوك

د اغیار په صورت اور یم چې لګېږم

لکه ګل تر و تازه په لاس د یار یم

ځو مې شته د عشق خواري هومره ښادي ده

که مې ورکه دا خواري شوه نور به خوار شم

له ادبه یې و مخ ته کتی نشم

خدای را پېښنه جدایي کړه په وصلت کې

په نا مرد مشك و عنبر لونې فلکه!

آلوده لرې د مرد چهره له ګرده

# مراعات النظیر

دغه صنعت ته تناسب او تلفیق هم وایي او هغه دادی چې شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې سره یو ځای کړي چې یو له بل سره تناسب او نږدېوالی ولري دا صنعت په پښتو کې خورا ډېر راځي. مثالونه یې دادي:

وکاکل ته دې کافي د رخسار ګل دی حاجت نه لري و عطر و عنبر ته
ستا چشمان به څه نګاه کا په خاکسارو چې له کبره دې باڼه ګوري آسمان ته
چې آرزو یې په خاطروه د ګل ډېره په ګلدام کې مې ناله کړه بلبل هېره
که هرڅو یې په تندي ږدي اري زلفې شانه نه پرېږدي د مستې خورې زلفې

معشوقې همیشه ناز په عاشق کاندي
رحمان هېڅ له خپله یاره ازار نه دی

# حسن تعلیل

حسن تعلیل دادی چې شاعر دکوم وصف له پاره یو مناسب علت راوړي مګر دا علت باید خیالي یا ادعایي وي نه حقیقي. مثلاً حمید مومند وایي:

چې نظر یې د ګل رخ ساقي په مخ شو د نرګس له لاسه جام پریوت نسکور شو

د نرګس ګلان د ګلابو تر ګلانو د مخه غوړېږي او هرکله چې د نرګس د ګلانو موسم پای ته ورسېږي نو د ګلابو موسم شروع شي او دا طبیعي شی دی چې په آب وهوا او موسم پورې اړه لري مګر شاعر په نوموړي بیت کې، د نرګس د ورکېدلو علت دا بولي چې د

ګل د ليدلو توان نه لري ځکه چې دا يو خيالي او ادعايي علت دی نه حقيقي. نو په دې وجه حسن تعليل بلل کېږي نور مثالونه يې دادي:

| | |
|---|---|
| چې سبابه له مجلسه جــدا کېږي | شمع ځکه درسته شپه د ســوز ژړا کا |
| چې بلبېږي په کــې اور زمــا د آه | څــه به نه وي د فلــك مـانۍ سياه |
| شيدا تيغ د ګل په څه باندې رنګين شو | کــه بلبلې د بهــا رنــدي فګــارې |
| ښاپيرۍ چې ليده نشي سبب دادی | مخ د ستا لــه شرمه نغاړي په حجاب کې |
| چې سبا شي ستا تر مخ پورې شرميږي | ځکه زيست په توره شپه کانـدي مهتـاب |

چې خندايي د بلبل په آه سرد کړه
خدای د ګل ګريوان پاره کړ سينه چاکه

## لف او نشر:

هغه صنعت ته وايي چې شاعر په خپل کلام کې لومړی څو شيان ذکر کړي او وروسته بيا د هغوی تعريف او بيان وکړي. نو که دغه تعريف او بيان په ترتيب سره شوی وي مرتب او که په ترتيب سره شوی نه وي غير مرتب لف، نشر بلل کېږي لکه:

په ځان او په جهان کې ما دوه څېزه دي وکښلي
په ځان کې دواړه سترګې په جهان کې واړه ښکلي
يا بـه دد ، يـا به لړم، يا بـه منګور يې
که د اړل کړې يا چيچل يا په چانيش يې

د لومړي بيت په اوله مسره کې ځان او جهان ذکر شوی دی وروسته بيا په دويمه مسره کې په ترتيب سره د هغې بيان شويدی. اوپه

دويم بيت کې لومړی د لړم او منګورنومونه راغلي دي وروسته بيا له ترتيب څخه پرته د هر يوه تعريف شويدی نو ځکه په لومړي بيت کې مرتب او په دويم بيت کې غير مرتب لف ونشر دی.

اوس د مرتب لف ونشر يو څو مثالونه وګورئ:

په يوه طرف جفا په بل ژړاوه معشوقې هغه اختيار کړه عاشق دا
په بزم ورزم باندې چې راشي د طوطي ژبه زړه د پلنګ لري

دا لاندې بيتونه د غير مرتب لف و نشر مثالونه دي:

شيخ د حورو صفت کازه د دلبرو دا زما هغه دده دعوه پريښلې
زر جوړ سپر دی بخيل سخي ته هغه دخلد شو داد سقرګڼه
رانده يې ځغلي خوارو هر لور ته خوانده يې نه ځي له لوره لورته
تاج د عزت يې په سرد دوی وينو هغوی يې پريښول وپيغورته

## مبالغه

که شاعر د يو شي وصف تر اندازې زيات بيان کړي او د هغه ښه والی او بدوالی يا تصديق او تکذيب ته شدت او قوت ورکړي مبالغه يې بولي او درې ډوله ده:

**۱ - تبليغ:** هغه دی چې مدعا هم د عقل او هم د عادت له مخې امکان ولري لکه:

له خوشحال سره که ښيني يو څو کاله داد غره ختڼك به واړه شاعران شي

**۲- اغـراق**: چې مدعا د عقل لـه مخې امکـان ولـري خو عـادتاً محاله وي لکه:

زړه مې داسې اندېښنو د هجران ډک کړ ځای د وصل په کې نشته يو خشخاش

**۳- غلو**: چې مدعا هم عقلاً محالـه وي او هم عـادتـاً دا ډول مبالغه که څه هم ډېره راوړل کېږي خو اديبان يې هغه وخت خوښوي چې کـوم ادبـي نزاکت او لطافت پـه کې وي کـه نـه وي نـو بېخونـده ښکاري مثـالونه يې دادي:

تنګه خوله يې په مثال د مېږي سترګه | نه غـلـط شوم چې مثال يې نا پيدا دی
بې له تا هسې ضعيف يم ګلـرخساره | پر حباب باندې که ښنه ږدم نه ماتېږي
و آسمان تـه بـه د شـــعر زينې کېږدي | کـه حميد د غم له سره زنګون و کيښ

# تکرار حسن

هغـه صنعت تـه وايـي چـې شـاعر پـه خپـل کـلام کـې کومـه کلمـه د تدريج، تاکيد، ډېروالي يا داسې نورو اغراضو له امله تکرار کړي لکه:

ستا ملالو سترګو زړه له مانه يو وړ | آهو چشمه ګلرخساره راشه راشـه
چې هميش دې د اغيار پر لور سـفر دی | يو ځل يارته له اغياره راشه راشـه
له احواله يې ورو ورو پوښتۍ يارانـو | بيلتانه د رحمان وار دی خطا کړی
بيا راتله دې وجهان ته بل وار نشتـه | بل وار نشته بل وار نشـته وار دی دا

## تجاهل العارف

تجاهل العارف دې ته وايي چې شاعر يو معلوم او څرګند شی مجهول وګڼي او سره له دې چې په مطلب ښه پوه وي د کوم نزاکت له پاره خپل ځان نا پامه واچوي لکه:

دا دکوم ګلرخ له غمه په ګلشن کې
دي ګلان په وينو سره لکه سالو

دا بورا دی چې پر پاڼه د ګل ناست دی
که پرمخ د ګلرخسار ده توره زخه

دايې سترګې دي له ذوقه زما د زړه په غوښو ښښتې
که آهو ګل دلاله خوري په دا هسې دا مانه کې

## حسن مقطع

چې شاعر خپل کلام په خوند ورو او زړه وړونکو الفاظو سره بې له کوم شرط څخه قطع کړي لکه خوشحال خان خټک چې وايي:

د ښاد منو په خندا ړو
د غمجنو په ژړا ړو

درندانو په رندۍ
د شيخانو په تقوا ړو

د وصال په سل خوښۍ
د هجران په زر بلاړو

د بهار په ښوګلونو
د بلبلو په نوا ړو

چې تر ځان په تا مين يم
زه خوشحال خټک په تا ړو

# د نظم ډولونه

نظم په لغت کې د مرغلرو پیېلوته وایي او په اصطلاح کې هر هغه کلام چې وزن او قافیه ولري نظم بلل کېږي.

په پښتو ژبه کې نظم دوې برخې لري: لومړی برخه یې ملي نظمونه دي لکه لنډۍ، نیمکۍ، نارې. څلوریځې او داسې نور. دویمه برخه هغه نظمونه دي چې په پښتو، فارسي او عربي ژبو کې مشترك راځي او په یوه قاعده سره ویل کېږي لکه: قصیده، غزل، مثنوي، رباعي او نور اوس د دواړو برخو ډولونه په لنډ ډول سره ښوول کېږي:

# لومړی برخه ملي نظمونه

## ۱- لنډۍ:

په ځینو ځایو کې ټپه، مسره او ټیکۍ هم ورته وایي د پښتو یو ملي شعر دی چې د پښتو ژبې د ادب یوه لویه برخه پرې ښایسته ده. لنډۍ دوې مسرې لري چې لومړی مسره یې لنډه او نهه سیلابه ده او دویمه مسره یې اوږده او دیارلس سیلابه ده. د لنډیو اصلي ویونکي معلوم نه دي خو اکثره پښتانه یې وایي که څه هم لنډۍ د موضوع له امله ډېر ډولونه لري مګر اکثره یې عشقي او رزمي دي یو څو لنډۍ د نمونې په توګه وګورئ:

سبا به بیا کډې بارېږي          د دښت ګلان به ستا لمنې بویوینه

په باغ کې مه ګرځه مینه ګلان شرمېږي مخ په پاټو پټوینه

څنګه په ځیر ځیر راته ګوري لکه چې نن دې پرما خوار مینه راځینه

دیدن په لك روپۍ ارزان دی پلومې باد واخیست وریا دې ولیدمه

پر ګودر سور سالو ښکاره شو ماوې دې تورو اوبو اور واخیست مینه

مخ په مړوند کله پټېږي ظالمه یاره سلامي ولاړه یمه

ټوکر ټوکر په تورو راشې چې پر هارونه دې ګنډم خولــه درکومه

جانان مې سر په وطن کښیښود په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه

په تور ټوپك ویشتلی راشې د بې ننګۍ احوال دې را مشه مینه

ته په سنګر کې ځان شهید کړه زه به خپل شال ستا پر زیارت وغوړومه

## ۲- نیمکۍ یا سروکی:

دا یو ډول شعر دی چې له لنډیو سره ویل کېږي او په پښتو ژبه کې زښت ډېر رواج لري. نیمکۍ عموماً یو بیت یعنې دوې مسرې دي چې کله کله دواړه مسرې سره یو شی او ځینې وخت یوه مسره اوږده او بله لنډه وي او دقافیې شرط هم په کې نشته په دې ډول شعر کې لومړی سروکی ویل کېږي او وروسته بیا لنډۍ ور لویږي په دې ترتیب چې دسروکي تر ویلو وروسته د لنډۍ لومړۍ مسره ویل کېږي او بیا دسر یو جز ور لوېږې وروسته د لنډۍ دویمه مسره ویل کېږي هر کله چې د لنډۍ دویمه مسره وویل شي نو کله کله د سر لومړی جز اول وویل شي او بیا سروکی تکرارېږي او کله کله بی له دې چې لومړی جز وویل شي سروکی تکرارېږي ځینې وخت بیا

ټول سروکی یو وار د لنډۍ تر لومړۍ او بیا تر دویمې مسرې وروسته تکرارېږي. له لاندینیو مثالونو څخه به درته څرګنده شي:

سروکی:

پاس په باړه کې اوبه ګډې وډې ځینه          شینوارې لونګینه

لنډۍ:

جانان زما زه د جانان یم          که په بازار مې خرڅوي ورسره ځمه

**د ویلو ترتیب:**

جانان زما زه د جانان یم - شینوارې لونګینه – که په بازار مې خرڅوي ورسره ځمه شینوارې لونګینه- پاس په باړه کې اوبه ګډې وډې ځینه- شنوارې لونګینه.

* * *

سروکی:

لونګ کرمه- که لومې ګډ کړ یاره تا به راولمه.

**لنډۍ:**

د جانان مخ د ګلو باغ دی          دیدن کوم امیل د ګلو جوړومه

**دویلو ترتیب:**

د جانان مخ د ګلو باغ دی – لونګ کرمه- دیدن کوم امیل دګلو جوړومه- لونګ کرمه- که لومې ګډکړ یاره تابه راولمه.

سروکي:

هلك نری چنار دی          جلۍ د ګلو ونه

**لنډۍ:**

په باغ کې مه وله کوترې          یوه به مړه کې بیا به نه راځي
سیلونه

## دویلو ترتیب:

په باغ کې مه وله کوترې هلك نرى چنار دى- جلۍ د ګلـو ونه
یوه به مړه کې بیا به نه راځي سیلونه
هلك نرى چنار دى- جلۍ د ګلوو نه

## ۳- چاربیته:

د پښتـو د ملي اشعـارو پـه لړ کې د شعر یـو خـورا مـشهور ډول دى چې کیسى، نکلونه داستانونه او نور اوږده او ږده مضامین پـه کې ادا کېږي. چاربیته یو سر لري چې هغه ته کسر یا پېر وایي. کسر یا پېر یو وار د چاربیتې په سر کې ویل کېږي او بیا تر هربند وروستـه تکرارېږي چاربیتې په خپل منځ کې د مـسرو د شمېر، اوږدوالي او لنډوالي په لحاظ توپیر لري. د چاربیتو د بندونو، د مسرو شمېر له څلورو څخه نیـولې تـر شلو مـسرو پـورې رسېږي همدغـه سبب دى چې د مثنـوي او قـصیدې پـه شـان اوږده اوږده مـضامین پـه کې ادا کېدلاى شي. په چاربیتـه کې د مـوضـوع تسلسل او ارتبـاط یـو مهـم شرط دى او د ځینو نـورو اشعـارو پـه شـان پـه یـوه چاربیتـه کې ډېر موضوعات نه راوړل کېږي دا لاندې چاربیتـه خـانمیر ویلې ده چـې هر بند یې دولس مسرې لري:

په چپ کې ډال په ښي خنجر نیسمه د غلیـم مخـه بـرابر نیسمه
یا به له صدقه خپل وطن شي زمـا یا به په سرو وینو کفن شي زما

❁ ❁ ❁

په دروغو نـدي دغـه لاپـى زمـا په غـوږو واوره واړه پـاکې زما

که چېرې برید مې یوځل راغی په تا　　پوشه اجل دی دا چې راغی په تا
ماته وصیت له مور او پلاره شوی　　یو ځلې نه په څو څو واره شوی
د ننګ پرځای ورکوئ سر زامنو　　مختورن مه شئ په محشر زامنو
وصیت د پلار به ګاهې هیر نکړمه　　څو ځان د هغه پلار په څېر نکړمه
کله به هېر د پلارسخن شي زما
یا به په سرو وینو کفن شي زما
په هر طرف د غرو زمریان لرمه　　په لوړو غرو قوي بازان لرمه
غلیمه تا به په دوی ښکار کړمه　　دا خوړ ژوندون به په تا زارکړمه
پښې دې وباسه چې بې آب به شې　　د پښتنو په اور کباب به شې
پښتانه هسې ضعیف قام نه دی　　پښتون هر ګز بې ننګ ونام نه دی
ما دپښتون د تورې خرپ لیدلی　　ما د پښتون د غلیم ترپ لیدلی
واړه اولاد به دې دښمن شي زما
یا به په سرو وینو کفن شي زما

## ۴- رباعي:

د پښتنو عوام خلك هغې غزلې ته چې موضوع يې پند او نصيحت وي رباعي وايي.
کله چې سندر غاړی په ساز او سرود پیل کوي، نو د مخه تر ځلوریځو غزل او نور اشعار په ورو ورو او په ځانګړي ډول سره یوه رباعي وایي. او په دغه توګه د اوریدونکو پاملرنه خپل ساز او آواز ته را اړوي وروسته په نورو سندرو او بدلو پیل کوي:

د رباعي نمونه داده:

ته چې ځان ته هوښيار وايې هوښيار نـه يې
ځکه پوه دې په ژوندون او روزګار نه يـــې
د قانون او شريعت خبرې تل کړې
يـو ذره اګاه د شرعې پـه لار نه يې
په ژوندون کې دې د هر مرض دوا شه
پس له مرګه به د هېچا په کار نــه يې
که نيکي کړې که بدي کړې دا دې وخت دی
بيا راتلونکی په دې ځای کې دوبار نه يې
تمام عمـــر عبــث تېر شـــو (رمضـــانه)
ته لاهور د دې دنيـــا پـــه بـــازار نه يې

## ۵- بګتۍ:

د پښتـو ژبې پـه اشعـارو کې بګتۍ يـوه غـوره او خوږه برخـه ده، چې ځينې يې لوبه هم بولي. بګتۍ د څلوريځو په څېر يو سر لري، چې په عمومي ډول يـو بيت وي او د دواړو مـسرو قافيـه يې سره برابـره وي. دغه رنګه د هر بند وروستنۍ مسره د بګتـۍ لـه سر سره پـه قافيـه کې يو شی وي. سر د هر بند په پای کې تکرارېږي نمونه يې داده:

غمونه لرې که له ما عاجز غمګينه راتاوشه لونګينـــــه
ودې ويشـــــتم روغــه دې نه کـړم نوره ياري در سره نه کـړم
بل دې په سرو شونډونتکۍ ځانګي مينـــه
راتاو شه لونګينـــــه
د لوړې تندې مې جولې شــولـــې دلبرې تاته مې ګيلې شولې
زه تشنه لبه تږی راغلمه له سېنـــه

راتـــــاو شه لونګینه

پاس په بامـــو ګرځـــي کوتـــرې! زما د خوږ زړګي دلبرې

چې شال په سرکې څنګه ښه ښکارې سنګینه

راتـاو شـه لـونګـینه

د محمد نـــور فقـــیره بختـــه څنګه راپرېوتې له تختـه

بخت مې کوږه شو آس مې ولاړ سره له زینه

راتاو شه لونګینه

## ٦- نارې یا غږونه:

د پښتو ژبې ملي ځانګړی شعر دی چې په نورو ژبو کې یې مثال نـه لیدل کېږي نارې یا غږونه د پښتـو ژبې پـه ملي افسانو او نکلونو کې راځي دا هغه افسانې او نکلونه دي چې په حقیقت کې د پښتـو د ملـي روحیـاتو، نـنګ، مېړانـې، صداقت او بـالاخره پـښتونوالي هنداره بلل کېږي.

پښتانـه ملـي افـسانې او نکلونـه پـه خـورا خونـد او ګـر مجوشـۍ سره کوي او هر کله چې د نـارو وار پـه کـې راشـي ساز او سرود هـم پـه کـې غـږول کېـږي نـارې دمـسرو د شـمېر او د هغـوی د اوږدوالـي او لنـډ والـي لـه مخـې پـه ځینـو نکلونـو کـې یـو شـی او پـه ځینـو نکلونـو کـې توپیر لري.

د نمونې په توګه لـومړی د جلات خـان شـمایلې او وروسـته د قلنـدر او میرا جان د نکل د یو څو نارو نمونې وګورئ:

جلات خان او شمایله یوه ډېره سوزناکه قصه لري. شمایله د خونکار پاچا لور وه چې شرطونه یې درلودل. څوك چې شرطونه ادا کوي شمایله د هغه ده او که شرطونه پر ځای نه کړي نو سر یې پرې کېږي. د جلا ت خان ورونه او په خپله جلات خان غواړي چې د پاچا د لور شرطونه پر ځای کړي او د پاچا لور وګټي په دې لاره کې د جلات خان شپږ ورونه پر شمایلې باندې سرونه بایلي مګر یوازې جلات خان چې د دوی کشری ورور دی د پاچا شرطونه پر ځای کوي او شمایله ګټي.

د جلات خان دوه ورونه چې د پاچا د لور شرطونه یې نه دي پر ځای کړي وژل شوي دي او دریم ورور یې چې هغه د شرطونو په ادا کولو نه دی بریالی شوی جلاد ورته ولاړ دی او غواړي چې سر یې پرې کړي په دې وخت کې دی داسې ناره کوي:

که څو وم دی لویه خدایه نن د دې میاشتې څــــووم دی

زما دوه ورونه یې وژلي چې دا زما سر پرې کوي دا یې دریم دی

په دې لاره کې د جلات خان شپږ سره ورونه یو په بل پسې وژل کېږي شپږم ورور د مرګ په وخت کې جلات خان ته چې هغه لاکمکی هلك دی او په کور کې پاته دی په یوه ناره کې داسې توصیه کوي:

یو که کښته د بابا شینکیه کښته
پر جلات مې سلام وایه چېرې نوم د خونکار اوري ځني تښته
جلات خان چې لږ لوی شو په شمایلې پسې را رهي کېږي او غواړي
چې شرطونه یې پر ځای کړي او د پاچا لور وګټي، نو له خپلې مور
څخه د حق ښښنه غواړي:
که مر لیه د جلات خان په لاس مرلیه
که راپل کې مورې ستا د ځیګر پیه[1]
وروسته بیا یو ملنګ په مخه ورځي او له هغه څخه داسې دعا
غواړي:
که ببر دی شاه فقیر سر مې ببر دی
یوه مسته دعا راکه چې په خوا دشمایلې مې سفر دی
دغه رنګه قنلدر او میراجان هم یوه ډېره خوږه اوله ارمانه ډکه قصه
لري چې ډېرې خوږې او سوزناکې نارې لري یو څو نارې یې دا دي:
که راسه راسه دلبــــره راســه زه دې غــلام یم ته مې آغــاســه
یار دې پر شو خو ســـترګو مین کړم بیا راته وایې له ما جلا سه

[1] پیه = شیدي

یو بل ځای داسې وایي:

که اور دی اور دی بیلتون دې اور دی — زه قلندریم په کې مې کور دی
د اور په سونګ به د چا رضا شــي — رضا مې نه ده را باندې زور دی

هر کله چې میرا جان له قلندرڅخه بېل شو او د هند لورته ولاړ. نو یوه شپه ښکلې هوا او سپینه سپوږمۍ ده شین آسمان دی ستوري په کې ځلېږي قلندر ورته ولاړ دی د سپوږمۍ پلوشې د ښکلو غرونو او ښه چمن ننداري خوند نه ورکوي. ځکه چې له خپل ګران مین څخه بېل دی او زړه یې د بېلتانه په اور کړېږي. نو د سپوږمۍ په لاس خپل ګران میراجان ته داسې پیغام لېږي:

که سپینې سپېنې سپوږمیه سپینې — احوال مې یوسه د یار تر سـیمې
پر میراجان مې ډېر سلام وایه — چې یار دې خوري درېسي دزړګي وینې

# دویمه برخه

## مشترک نظمونه

### ۱- غزل:

غـزل د نظم لـه ډولونـو څخـه یـو ډېـر مـشهور ډول دی چې پـه ټولـو دېوانونو کې زیاته برخه لري. د غـزل لـومړي بیـت تـه مطلع وایـي. د مطلع دواړې مسرې او د نورو بیتونو دویمې مـسرې یـو لـه بلـه سـره پـه قافیـه کې یوشـی وي او پـه وزن کـې د غـزلې ټـولې مـسرې سـره برابـرې وي. د بیتونـو شـمېر یـې لـه پنځـو څخـه نیـولې تـر پنځلـسو پورې رسېږي. غزلې که څه هم په ډېرو موضوعاتو کې ویلې کېږي، خو اکثره عشقي وي.

**نمونه یې داده:**

| | |
|---|---|
| چې دې وګوري ومخ ته وطن پرېږدي | وطن څه دی چې روح والوځي تن پرېږدي |
| که څښتن وي د تومنو ستا په مینه | درویزه کاندي اختیاره تومن پرېږدي |
| بلبلان که دې له حسنه خبردار شي | ستا د مخ په ننداره به چمن پرېږدي |
| څه خو مخ و بتخانې وته جار باسه | چې د بتو پرستش برهمن پرېږدي |
| ښه چې زړه مې مسافر شو ستا په لوري | عقیق لا شي قیمتي چې وطن پرېږدي |

د جفا د مړو ژوند څه دی حسینه

که د جورخوی زما ګلبدن پرېږدي

## ۲- بولله:

بولله یو ډول شعر دی چې قصیده ورته وايي. په قصیده کې خورا اوږده او ډول ډول مضامین ویل کېږي د بیتونو شمېر یې له شپاړسو څخه نیولې بیا تر دوو سوو پورې رسېږي په قصیده کې هم د غزلې په شان د لومړي بیت دواړه مسرې او د نورو بیتونو د دویمې مسرې قافیه یو له بله سره یو شی وي او په وزن کې یې ټولې مسرې سره برابرې وي دغه بولله عبدالقادرخان خټک ویلې ده:

شګفته په باغ او راغ شول د بهار ګل — هم په بام هم په کوڅه هم په دېوار ګل
نه یوائې ګل د ګلو بوټو ونیو — بادام ګل، شفتالو ګل ونیو انار ګل
هر آشیا د مځکې ګل پرورد ګار کړه — جمادات ګل،نباتات ګل، کل اشجار ګل
کاڼي بوټي خارو خس په ګلو پټ شول — د همه واړو عیبونو شو ستار ګل
چې د ستر ګو نظر لګي واړه ګل دی — وړاندې ګل دی وروسته ګل،یمین یسارګل
هېڅ یو ځای خالي له ګلو پاتې نشو — په بازار ګل په صحرا ګل په کوهسار ګل
که آسمان په شپه په ستورو ښایسته دی — لاتر مځکې ښایسته کړ په بهار ګل
عندلیب نارې وهي چې سیل کاندي — بهاردرومي رژېدن کا وار په وار ګل
د بهر په سیل به جونه زلمي کښېږدي — په اور بل ګل، په ټکري ګل، په دستار ګل
د دلبر صورت تمام لکه ګل روغ دی — پښې یې ګل، لاسونه ګل، چهره رخسار ګل
می ګلګون، ساغر ګلګون، ښیښه ګلګونه — ساقي ګل، حریفان ګل، واړه نګارګل

د بهار په سیل وخوځه له کوره — د راتلو دې هر ګودر کا انتظار ګل
چې ګلونه بویوې احتیاط یې بویه — چې په شونډو دې ونه کاندي پر هار ګل
چې د ګلو هار په غاړه نازنین کا — په سینه باندې یې څرخي لکه خار ګل
خاص او عام یې بهره من په ننداره شول — منتونه په هر چا باندې کړه بار ګل
چې د یار له وصله ښادوي ګل به ګوري — د مهجور به هرګز هېڅ نه وي په کار ګل
چې بې یاره د بهار په سیل درومم — په خاطر باندې مې لګي لکه نار ګل
په هزار رنګه ګلونه شګفته شول — ولید نشویو په شان زما د یار ګل
چې دا هسې یې په ډکه خوله خنداکړه — مګر نه وله خزانه خبر دار ګل
په هوس په خوشحالۍ یې اموخته وې — ګل پروره مه کړه ژرتر ژره خوار ګل
بلبل هېڅ نه و خبر د عشق له تاوه — په فریاد کړ په نارو کړ په چغار ګل
چې د سرای[1] په مځکه وارد پسر لي شي — شرمنده کا د کشمیر د بل دیار ګل
دا رنګ ګل چې په سر کال د غواص وشول[2] — د چا یاد نشي پخواهسې بسیار ګل
چې نښان د خپل اشنا ورځنې مومي — ځکه یاد عبدالقادر کړ په تکرار ګل

په بیاض کې مې د شعر ډول ډول
شګفته دي تر داښه هزار هزار ګل

---

(۱) سرای په اکوړي کې د یو ځای نوم دی.
(۲) د (۱۰۹۷) کال یې یاد کړی ځکه چې غواص د ابجد په حساب ۱۰۹۷ کېږي.

## ۳- رباعي:

رباعي هغه دوه بيتونه دي چې د لومړي بيت دوه مسرې د دويم بيت له دويمې مسرې سره په قافيه کې يو شی وي. نو له دې امله د پښتو له ځانګړې رباعي سره چې د ملي نظمونو په برخه کې مو ولوستله توپير لري. مثالونه يې دادي:

خزان چې راشي چمن تالاکا      د بڼ بلبلې په واويلا کا
نن که وصال دی سبا هجران دی      نيازمن به واړه سره جلا کا

❋ ❋ ❋

طامع هميش وي په انتظار کې      آب يې د مخ ځي په هر دربار کې
ګنج چې د صبر پيرمحمد بيا موند      توانګر باله شي په دا ديار کې

❋ ❋ ❋

عمر مې تريخ شو په شرافت کې      اوښکې مې څاڅي تل په حسرت کې
جدا يي اورده په زړه لګيږي      په مرګ راضي يم نه په غربت کې

❋ ❋ ❋

هجران برهم کړې دوصال ګټې      ځای د محنت شو د وجود ختې
ارام بې ياره پير محمدنه کا      عشق ورپه ښو کړې داور چوټې

## ۴- قطعه:

دوه یا تر دوو زیات بیتونه دي چې د لومړي بیت د دوو مسرو قافیې سره یو شی نه وي مګرد بیتونو دویمې مسرې یو ډول قافیه لري لکه:

چې هاتیان ساتي پیدا که لویه خونه    چې هاتیان پرې ننوځي هسې ور
ګیدړهرچېرته خپل غم ساعت بد ل کا    لوی ځنګل بویه زمري لره یاغر

❁ ❁ ❁

اندیښنه که په غره کېږدي    غر به هم لکه ویښته کا
خوار سړی ملامت نه دی    که په غم کې ځان اوبه کا

## ۵- مثنوي:

په مثنوي کې ټول بیتونه یو ډول قافیه نه لري خو د هر بیت د دواړو مسرو قافیه یې باید سره یو شی وي او د بیتونو شمېر یې هم ټاکلې اندازه نه لري بلکې د هغې موضوع په اوږدوالي او لنډوالي پورې اړه لري چې شاعر یې په دې ډول شعر کې ادا کوي.

# نوي نسل ته پیغام

اې د پاك وطن فرزنده — اې د قام خوږه دلبنده
اې د نوي ژوند پیغامه — اې ارزو د وطن قامه
د افغان د بڼ سنبله — د پښتون د بڼ بلبله
سبا ته مسئول د کارېې — که ته مور او که ته پلار يې
ښه اخلاق او علم زده کړه — هله هله تلوسه کړه
علم هر چا له په کار دى — نه چې تش د نرو کار دى
ښځه نر دواړه مسئول دي — خو په ښه عمل مقبول دي
د حيات په هنګامه کې — د ژوندون په افسانه کې
دواړه يو بل ته محتاج دي — يو و بل ته د سر تاج دي
يو خاوند بله ميرمن ده — له قديمه نه چې نن ده
يو به بل ته احترام کا — که باور د خداى په نام کا
د خداى ﷻ دواړه بندګان دي — مکلف په ښه ګذران دي
يو چې بل ورنه جدا شي — لکه مات چې لاس د چا شي
زمونږ خويندو شئ بيدارې — له خپل ځانه خبر دارې
قام زبون دى وطن خوار دى — دا زمونږ د پاره عار دى

موږ ته نه ښايي خوبونه — نه مستي او نه عيشونه
لېږې لېږې دا ظلمت کړئ — له وطنه جهالت کړئ
جهان واړه په موږ خاندي — مسخرې راپورې کاندي
نه خبر موږه له ځان يو — نه له حاله د جهان يو
په سوالي جامه فيشن کړو — خيانت د خپل وطن کړو
و باطل ته مو سر کوز دی — رښا حق راته مرموز دی
ځوان مو پير، پير مو ماشوم دی — حقيقت رانه معدوم دی
يو د بل په ځان اخته يو — په اوهامو فريفته يو
علم و فن ته بدګمان يو — ټول له يو مخه نادان يو
های ارمان مې دا وطن دی — دا د پلا رنيکه مدفن دی
هر نعمت په کې بسيار دی — بې له علمه چې ډېر خوار دی
های افسوس زيبا وطنه — ای د سرو ګلو ګلشنه

ته جنت ددې جهان يې
خو افسوس دی چې نن وران يې

## ٦- مستزاد:

هغه شعر دی چې يوه مسرهٔ يې اوږده او بله يې لنډه وي.

دې لاندې شعر ته مستزاد وايي:

نه غوږ لرم چې واورم نه په خوله د خیر ویل کړم — مدام منت پر بل کړم
چې قهر راشي عقل مې مغلوب شي نو کنځل کړم — مدام منت پر بل کړم
که هر څوکتابونه رنګ په رنګ و ځان ته ډېر کړم — اوښه یې تر نظر تېر کړم
را پیښه بدبختي ده چې یوه زره عمل کړم — مدام منت پر بل کړم
مرض یم درد و غم یم نه دوایم نه درمل کړم — مدا م منت پر بل کړم

## ۷- مربع:

یو ډول شعر دی چې بند یې دوه دوه بیته وي د سر په دوو بیتونو کې څلور واړه مسرې یو ډول قافیه لري وروسته بیا په هرو دوو بیتونو کې لومړۍ درې مسرې یو له بله سره په قافیه کې یو شی وي مګر څلورمه مسره یې له لومړیو دوو بیتونو سره یو ډول قافیه لري د شعر تر پایه پورې دا مراعات په کې کېږي.

د پیر محمد کاکړ د مربع یو څو بندونه دادي:

زړه مې نادان و د مینې غل شو — فراق یې اور و را باندې بل شو
راحت مې واړه په غم بدل شو — اوښکې سیلاب دي صورت مې شل شو
زېبانګار چې زه را په یاد کړم — له درد وغمه آه و فریاد کړم
قبول حیران یم د چا ارشاد کړم — بیل له ما خواره د لارې مل شو
عمر مې صرف شو په معصیت کې — شاکر یې نشوم په هېڅ نعمت کې
اوس صبح و شام یو په دا حیرت کې — مقبول به خدای ته په کوم عمل شو

## ۸- مخمس:

د مخمس هر بند له سره تر پایه پورې پنځه پنځه مسرې لري لومړی پنځه مسرې یو ډول قافیه لري په نورو بندونو کې لومړی څلور مسرې یې په قافیه کې سره یو شی وي خو پنځمه مسره یې له لومړیو پنځو مسرو سره یو ډول قافیه لري او د شعر تر پایه پورې دغه مراعات په کې کېږي د حمید ماشوخېل د مخمس یو څو بنده دادي":

د هجران له لاسه ناست یم ویر ژړلی　　لکه بت په غټو سترګو دم ختلی

بیهوده په صورت روغ په زړه نتلی　　بیلتانه په مرګي حال یم رسولی

ربه راولې اشنا په سفر تللی

یا له یار سره ولاړ وی په رکاب کې　　یا یې مړوای د هجران په اول تاب کې

یا یې ډوب مدام د اوښکو په سیلاب کې　　حساب نشوم د یوې چارې په باب کې

هسې پاتې شوم بې آبه مخ ناولی

چې په مینه کې کوتاه د چا قدم شي　　مبتلا به لکه زه په درد و غم شي

په کلونو به جدا ځنې صنم شي　　په جرګه به د رښتینو هسې ګرم شي

چې به ما غوندې له شرمه ګرځي غلی

یو دیار د جدایي خواره نیستي شوه　　بله خپله بې پتي بي همتي شوه

یو پلو درقیبانو بد نیتي شوه　　بل پلو د تور طالع بې شفقتي شوه

عشق په دا هومره بلایم از مویلی

## ۹- مسدس:

هر بند يې شپږ شپږ مسرۍ لري. لومړۍ شپږ مسرې يې يو ډول قافيه لري په نورو بندونو کې لومړۍ پنځه مسرې يې يو له بله په قافيه کې سره يو شی وي مګر د شپږمې مسرۍ قافيه يې د لومړيو شپږو مسرو پر قافيه باندې بنا کېږي د شمس الدين کاکړ د مسدس يو څو بندونه وګورئ:

وخت د سحر دی مرغان چغېږي جرس اواز کا زړه مې لړزېږي
سترګې مې غورځي باڼه رپېږي اثر دغم دی رامعلومېږي
کوم بد خبر به را ورسېږي
ديار د تللو خبرې کېږي

دا څه عشق نه دی واړه ټګي ده دا صدق نه دی منافقي ده
دا اخلاص نه دی دغا بازي ده دا ياري نه ده د ابېزاري ده
چې پر يار غم دی پر ماښادي ده
بې حيا زړه دې زما و شرمېږي

د جدايۍ سندرې وايم په سفر تللی اشنا به ستايم
که ملامت يم که بېنوايم بيا يې دوصل په تمنايم
زه شمس الدين يې په داد عايم
چې يا ر به کله بيار استنېږي

مسبع، مثمن او معشر هم دغه ډول اشعاردي، خو صرف د مسرو په شمېر کې توپير لري څرنګه چې ددغو اشعارو له نامه څخه هم ښکاره ده د اشعار و بندونه په مسبع کې اووه، په مثمن کې اته او

په معشر کې لس مسرۍ لري چې د سر په بند کې د ټولو مسرو قافیه یو له بله سره یو ډول وي او په نورو بندونو کې نورې مسرۍ یو ډول قافیه لري مګر یواځې د پای د مسرې قافیه د سر د مسرو په قافیه باندې بنا کېږي.

## ۱۰- ترجیع بند:

د ویلو ترتیب یې داسې دی چې لومړی څو بیتونه وویل شي وروسته بیا یو بیت چې د دواړو مسرو قافیه یې یو له بله سره یو شی وي مګر د نوموړو بیتو سره یې قافیه بېله وي- ور لوېږي او دغه بیت پس له هر بند څخه تکرارېږي.

په ترجیع بند کې د هر بند د بیتونو شمیر غالباً د پنځو اولسو بیتو په منځ کې وي مګر پنځه بیته ،اووه بیته او نه بیته ډېر رواج لري او کله کله یې د بیتونو شمیر تر لسو هم زیاتی کوي. د ترجیع بند د ټولو بندونو د بیتونو شمیر باید مساوي وي د پیر محمد کاکړ د ترجیع بند یو څو بندونه دادي:

ستا پر مخ پرتورو زلفو زه شیدا یم	صبح و شام په آه فغـــان په واویــلایم
په فراق کې دې تل خورم دځیګر وینې	صبر و توان مـــې بې تـا نشته مــبتلایـم
نن فلك را باندې تېغ د جور وکـېښ	له سرو وینو ډك لـړمـون لکـه حنـایـم
رقیبان راسره جنګ وجدل کانـدي	پـه در بار کې دې د سپیو مـدعـا یـم
غزاله غوندې وحشي را څخه مشه	زه صـیاد دې د دیـدن پـه تـمنا یـم

که شل کاله دې مانې وي له ما یاره　　　بیګانه مې هنوز مه ګڼه اشنا یم

له اشنا مکړه مانې بې وفا یي ده

چې سبځي مین بې اوره جدایي ده

غمازان چې روغې چارې کړي ویجاړې　　　خوار عاشق به څرنګ ستا په وصل ویاړي

چې احوال د فراقت پر ژبه را وړم　　　هغه دم مې وچوي په خوله کې ناړې

د لاله په دود له غمه ځیګر خون یم　　　په ګوګل کې مې تل وینې دي ولاړې

یا شبنم دی چې اوریږي په چمن کې　　　یا بلبل دی د سحر پر ګلوژاړي

ګرد غبار دې د کوڅې یم ولې دریغه　　　خیال د وصل دې لمن را څخه نغاړي

که هر څو د تامانې دي نن پخلا شه　　　دل سوخته اشنادې راغی عذر غواړي

له اشنا مکړه مانې بې وفایي ده

چې سبځي مین بې اوره جدایي ده

راشه راشه اې زما د زړه مقصوده　　　ما غریب کړه په وصال سره خوشنوده

یو دیدن دې په سر غواړم که مینده شي　　　لاس پر سر یم تر دنیا له بله سوده

د وصال قدر دمازده چې مشتاق یم　　　د ایاز قدردچا زده بې محموده

له ما تمه سیه پوش لکه سکاره یم　　　ترلیمه مې اوښکې ځي د زړه له دوده

لکه زه یم تل دا ستا په درد و غم کې　　　بل څوک مشه هسې شان په غم الوده

په مانې مانې پرڅه زیبا نګاره　　　پیر محمد غوندې اشنا دې کړ نابو ده

له اشنا مکړه مانې بې وفایي ده

چې سبځي مین بې اوره جدایي ده

## ۱۱- ترکیب بند:

له ترجیع بند سره یوازې دومره توپیر لري چې په ترجیع بند کې کوم بیت چې وروسته تر هر بند راځي تکراریږي مګر په ترکیب بند کې وروسته ترهر بند یو بېل بیت چې بېله قافیه او بېله معنا لري راوړل کېږي دترکیب بند د ټولو بندونو د بیتونو شمېر باید سره مساوي وي د حمید د ترکیب بند یو څو بندونه دادي:

په منزل به یې سبا ګوره څوك مله وي؟ نه پوهېږم چې به ساد[۱] وي که به غله وي؟!
په څه شان به شکسته زهیر په زړه وي؟ له نغمې به یې د زړه نغمه په خوله وي!
دم قدم به یې خولې د مخ په وله وي رانجه کړي به یې چا خاورې د پله وي؟
سزاوار د هر ستم د هر پېغور یم
چې مې یار په سفر تللی زه پرکوریم

یا دیاره سره تللی په سفر وای په هر ځای مې غوړولی پرې وزروای
یا یې مړد بیلتانه له غمه زروای یا په دواړوسترګو تې ړوند په نظر وای
که دانه کېدای هرګزه، معتذر وای خود په خود مې ځان وهلی په خنجر وای
هسې پاتې شوم تریار پورې مخ توری
په جرګه دعاشقانو کې کوز ګوری

[۱] پاک ، نیک ، دښو اخلاقو خاوند.

دا څه مینه محبت څه عاشقي ده؟ دا څه پت څه مروت څه صادقي ده؟
دم قدم د غلبازي منافقي ده! په مذهب د عاشقانو فاسقي ده
سراسر نا قابلي نا لایقي ده په ذمه مې د سینګار ګناه باقي ده

چې مې یار په سفر تللی زه په کوریم
ګویا مخ په تبۍ تور او په خره سوریم

چې مې یار په هند و بار زه په خپل کوریم نه دغمه پسې مرم نه کر او کوریم
نه بې هوښه نه پښې یبله نه سر توریم خواږه خورم او اوبه څښم په خندا خوریم
دیار، یارد خپلو خپل د ورونو، ورور یم لکه ومه هغه شان په خپل انځوریم

د حمید دا زندګي شرمنده ګي ده
که یې مرګ عزرایل دا بنده ګي ده

# ملاله

د (۱۲۹۷ هجري) کال د شعبان د میاشتې په اووهلسمه د دوشنبې په ورځ د قندهار د میوند پر دښته د پښتنو نر او ښځې، زاړه او واړه د خپل هېواد او خپلې آزادۍ د ساتنې له پاره د قربانۍ ډګر ته راوتلي وو.

ټکنده غرمه وه، غازیان تږي، ستړي او ستومانه ښکارېدل د میوند پر دښته اوبه هم نه وې، نږدې وچې د پښتنو لښکر له تندې ماتې وکړي له بلې خوا د دښمن لښکر ډېر قوي او په راز راز وسلو سمبال و. په همداسې حال کې د پښتنو بېرغچی هم ټپي شو، چې دې وضعیت انګریزانو ته دیوې شدیدې، حملې جرئت ورکړ، خو په دغه بحراني شېبه کې یوه پښتنه پېغله میدان ته راغله او د پښتو ملي بیرغ یې په خپلو سرو منګلو له ځمکې پورته کړ او ناره یې کړه.

خال به دیار له وینو کښیږدم

چې شینکي باغ کې ګل ګلاب وشرمو ینه

که په میـــوند کې شهید نه شوې

خدایږو لالیه! بې ننګۍ ته دې ساتینه

د دې پیغلې غـږ یـو آسـماني غـږ وچـې د پښتنـو غـازیـانو وینـې یـې پـه جـوش راوسـتلې او ټولـو د "الله اکبر" پـه یـوه نـاره پـر غلـیم حملـه وکـــړه او دښمنـان یـې تـار پـه تـار کـړل او خپلـه پاکـه خـاوره یـې دپردیـو متجـاوزینو لـه نـا پـاکو قـدمو څخـه پاکـه کـړه. دا ننګیالـۍ پیغلـه چې نـوم بـه یې د تـل لـه پاره د پښتنو پـه تاریخ کې پـه زرین لیك ثبت وي "ملاله" نومېده!

## لنډۍ :

پر سـپین میـــدان بـــه در ســـره یم
زه پښتـــنه لـــه تورې نه تښـــتم مینه!
پـه ویـنــــــــو رنګ تـــوره دې راوړه
راشه پـه سرو شونډو یې زه در پاکه‌کړ مـه
جـــانـــانـه هســـې وخت بـه راشـــي؟
چې ټوپك واخلو لاس پـه لاس سنګر ته ځـــونه

# د هرات محاصره

په (۱۲۵۵ هـ) کال کې د هرات ښار د پردیو تیري کوونکو له خواکلا بند شوی وچې د هرات ننګیالیو پښتنو یو کال او اته میاشتې هغه ښار په ډېره میړانه وساته څو چې دښمن ماتې وکړه نو هغه وخت په هرات کې یوه پښتنه شاعره اوسېدله چې هغه پیښه یې په خپلو سترګو لیدلې وه او بیا یې ټوله واقعه په پښتو نظم کړې وه.

دا پښتنه مېرمن "سپینه" نومیده او د نور محمد خان الکوزي لور وه چې په ډېره خوږه لهجه یې ددغې محاصرې او جنګ حالات منظوم کړي دي.

څنګه چې په هغو جګړو کې شاه کامران سدوزي او وزیر یار محمد خان الکوزي ښه مېړانه ښکاره کړې وه نو مېرمن سپینې هم هغه نومیالي ښه ستایلي دي.

د مېرمن سپینې دا منظومه ډېره اوږده ده خو دلته یې د نمونې په توګه څو بیتونه چې ددې پښتنې مېرمنې احساسات څنې ښکاریږي را نقلوو او هغه دادي:

"غلیم پر شهر بیا هجـــوم راوړی
مخ ته ولاړ دی یار محمد پیاوړی
زموږ پښتانه لکه زمري جنګېــږي
ویالې دوینـــو پـــر حصـــار بهېږي
هرات په وینو د پښتون شو ګلرنګ
پښتون زخمي دی د غلیم په خدنګ

يا رمحمد وايي پښتنو زمـــا زمـــرو
ټوله راووځئ وســـــــله دار له كورو
پر غليم وكړئ يو هجـــوم ګـړنـدى
هرات له لاسه په ژوندن مــه باســئ
دا خو زمونږ كور دى زمونږ وطن دى نا
دا زمونږ ټاټوبى زمونږ مامن دى نا
كفن پـــه غـــاړه دا وطن وســـاتئ
زمونږ د پلرو ښكلى مدفـن وســاتئ
دلته پراته دي ننګيالي نيكه ګـان
دلته بهيږي وينــې تــل د افغـــان
هرات زمونږ دى زمونږ كور دى نـا
زمونږ نغرى دى زمونږ اور دى نــا
دښمن راغلى تر ديوالـــه د كــور
ولاړ سئ دادى د پښتون لوى پيغور
كامران ناري كړې چې: "پښتونه كامه!"
توره را باسه مره پر ننــګ ونـــامه
مه بايله ځان اوسه ولاړ پر حصـــار
د پښتانه پر ننګه ځــان كړه ايثـــار
بويه غيرت چې مو ناموس خوندي سي
نوم د پښتون نوم دا ولس خوندي سي"
زلمو چې واروېدې نـاري غلبـلې
له يار محمده او كامـــرانه دلــې

له کلا وواتـــه زمریـــانو پـــه څېر
پر دښـــمنـــانو یــې جوړ کړلتهپېر
سرونه یې غوڅ کړه ددښمن په توره
مور یــې کـړه پـــر غلیمـــانو بوره
دښمن شو مات راغی دوران د کامـــران
دیار محمد د بري ستوری ځـــلان"

# پیسې سبځل

وایي چې پخوا یو سړی و، چې ټولو خلکو به لیونی باله، دا ځکه چې ده به مزدوري کوله او څه چې به یې ګټل له هغې ګټې څخه به یې چې ضروریات پوره کړل نو د پاتې پیسو څخه به یې هر سهار د پنځو روپو نوټ سبځه.

دده دا لیونتوب ډېر مشهور شو څو چې د اقتصاد یوه متخصص وغوښتل چې دا لیونی وګوري چې دی څنګه هر سهار د پنځو روپو نوټ سبځي.

دا متخصص یو سهار وختي ددې لیوني کورته ورغی، لیوني هم په ډېر ورین تندي دده هرکلی وکړ او چای یې ورته راوغوښت خو متخصص وویل چې چای نه څښم فقط ما ته یوه قطۍ سګریټ را وغواړه.

ليوني هم سګريټ راوغوښت، په ښه اهليت يې مجلس ورسره وکړ، کوم وخت چې دده د مزدورۍ وخت راغی نو متخصص ته يې وويل چې:

"زما د مزدورۍ وخت دی مهرباني وکړه درځه چې ځو".

متخصص ورته وويل: "ما آورېدلي وو چې ته داسې ليونتوب لرې چې هر سهار د پنځو روپو نوټ سېځې، نن خو دې هېڅ ونه سيځل."

هغه سړي ورته ومسل او وې ويل: "ليونتوب خو نن تا وکړ نو ځکه ما پرېښود." متخصص په ډېر تعجب وويل:

"زه او ليونتوب؟! دا څه وايې!؟"

هغه ورته وويل: "وروره! ما به هر سهار د پنځو روپو نوټ سېځه نن مې د هغو پنځو روپو تاته سګريټ راونيو، چې تاسې وسېځه...

مګر خلك زما سېځلو ته ليونتوب وايي او ستاسې سېځلو ته "فيشن"!!!

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د سګريټو څکلو ضررونه بيان کړي.
- هر زده کوونکی دې د سګريټو د څکلو په زيانونو خبرې وکړي.

# یو پوه وایي

تر ټول عمر تجربې، تحصیل او زده کړې وروسته اوس د ژوند په پای کې په دې پوه شوم چې:

"نه پوهېږم!!"

څوک چې نورو ته په درانه نظر ګوري په حقیقت کې ځان له سپکاوي څخه ژغوري.

سپارښتنې:

- هر زده کوونکی دې د پوهانو یوه ، یوه وینا په ټولګي کې ووایي.
- زده کوونکي دې د پورتنیو ویناوو مقصد وایي.

# وروستی لوست

دا يوه لنډه کيسه ده چې د يو ويښ ملت، حساس هلك ليکلې ده اوله اروپايي ژبو څخه ژباړل شوې ده، او دا ښکاره کوي چې ويښ ملتونه د خپلې ملي ژبې سره څنګه مينه لري دا کيسه ډېر کلونه پخوا د کندهار د "طلوع افغان" په ورځپاڼه کې هم خپره شوې ده.

د پسرلي دښه موسم يو ښکلی سهار و، د ګهيځ نرى شمال چلېده، ددې ښکلي سهار په ننداره بوخت وم چې د ښوونځي وخت را څخه تېر شو.

زما خپل سبق ښه نه و زده، پر لارې تلم او دا مې ويل: چې ښاغلی ښوونکی خو ضرور زما څخه سبق پوښتي او هرو مرو به را څخه خواشينی شي.

يو وار مې زړه وغوښته چې بېخي ښوونځي ته ولاړ نشم، خورا ښه ورځ وه، هرې خواته ګلان غوړېدلي وو، چوغکو اوازونه کول، عسکرو خپل تعليم کاوه، کله کله د باجې غږ هم اورېدل کېده، خو سره له دې ټولو ننداړو زه له ښوونځي پاته نشوم...

زما پښې د ښوونځي خواته رهي وې، نه پوهېدم چې ولې؟

پر سړك يې يوه تختـه ځړولې وه، شاوخوا ډېر خلک پرې راټول وو نو ما د ځانه سره وويل چې ضرور خو دلته يوه نوې خبره شته.

ما غوښته چې ددې ډلې لوري ته ولاړ شم او وګورم چې څه پېښه ده؟

خو یوه سړي راته وویل: "اوس ښوونځي ته ځې؟ دا وخت د تګ دی!؟" په دې خبره ډېر شرمنده شوم، زرښوونځي ته ولاړم. په ښوونځي کې خو تر سبق د مخه د هلکانو ډېر زوږ وي، مګر نن خوهېڅ نشته. ټول هلکان پټه خوله دي، چوپه چو پتیاده... هلکان ټول په کوټو کې ناست وو ښاغلی ښوونکی هم دننه و، زه هم کوټې ته ورغلم، ښوونکي صاحب په خورا شفقت راته وویل:

"راځه راځه! کښېنه، موږ بیله تا په سبق پیل کاوه..."

زه زر پر خپل ځای کښېناستم، شاو خوا مې وکتل که ګورم زمونږ د کلي مشران هم دلته ناست دي. زه ډېر حیران شوم نه پوهېدم چې څه پیښه ده.

په دې وخت کې زموږ ښوونکی صاحب چې پرچو کۍ ناست و، راته یې وویل:

"هلکانو! نن تاسې ته وروستی لوست در کوم، د پردي دښمن له خوا حکم راغلی دی چې تردې وروسته به په دې ښوونځي کې زموږ په ملي ژبه لوست نه وي او په پردۍ ژبه به لوست کېږي نو ځکه نن دغه ستاسې د "ملي ژبې" وروستی لوست دی، سبا بل ښوونکی درته راځي.

نو ګرانو هلکانو! د نن سبق په غور واورئ!"

ما چې د ښوونکي دا وینا و اورېدله سړې خولې را باندې راغلې. وربرډېدم اوس نو د هغې تختې خبره ښه راته ښکاره شوه چې څه پرې لیکلي و؟

نن زما د خپلې ملي ژبې وروستی لوست دی، افسوس! تر اوسه لا مالیك نه دی زده کړی.

اوف - خدایه! ما خپل وخت څنګه ضایع کړ، کاشکې ما خپل سبقونه زده کولای! زه د فکر په سیند کې ډوب شوم، هغه لوستونه چې پرون ما نه زده کول نن مې ډېر ارمان شول...

پټه خوله وم، له ډېره غمه مې زړه ریږدیده.

ښوونکي صاحب وویل: "افسوس! تاسو یو غیرتي ملت یاست مګر خپله ملي ژبه به در څخه پاته وي!...

هلکانو! دا خبره په ښه غور واورئ چې زموږ ملي ژبه تر ټولو ښه ژبه ده، داسې خوږه، داسې ښکلې ژبه پر دنیا نشته تاسې نن محکوم یاست مګر خپله ملي ژبه هیره نه کړئ او ددې له ساتنې څخه لاس وانه خلئ!".

په دې ډول ښوونکي صاحب کتاب خلاص کړ او په ویلو یې پیل وکړ موږ ټول په فکر کې ډوب وو، د خپلې خوږې ملي ژبې لوست مو اوریده...

د لوست وخت تیر شو د لیك وخت راغی موږ ډېر کاغذونه د خپلې خوږې ملي ژبې په لیکنه تور کړل، ټولو ددغې جملې مشق کاوه:

"زموږ ګران وطن، زموږ خوږه ملي ژبه!"

په کوټه کې هوا خورا سړه وه، دمچ بوڼ هم نه و، د ټولو یوه شونډه لاندې بله پورته وه چې پټه خوله وو...

هو کله، کله پر کاغذ د قلم کښهار اورېدل کېده، په کړکۍ کې یوه کوتره ناسته وه، ورو ورو یې غومبر واهه، ما چرت واهه، له ځانه سره مې ویل چې: ښایي سر له سبا به داخوار کۍ کوتره هم په پردۍ ژبه غومبروهي، اوف! څومره بې وزلې ده.

ښوونکی صاحب هم په چرت کې ډوب و، له ډېرې خواشینۍ څخه یې کله کله سترګو اوښکې کولې:

لویانو خلکو هم نن په خورا خوښۍ سبق ووایه- ځکه چې دوی پوهېږي چې نن د دوی د ملي ژبې وروستی لوست دی...!

په دې وخت کې ساعت د دولسو بجو زنګ وواهه، د دښمن د عسکر د تروم غږ اورېدل کېده د ښوونکي صاحب مخ ژېړ شو، بدن یې رېږدېده په ډېر زحمت ولاړ شو، وې ویل:

"ګرانو هلکانو! زه... زه... زه..."

دده ستونی ډک ډک کېده، له خولې څخه یې خبره نه وتله، نو د تختې خواته رهي شو، په رېږدېدلي لاس یې په پنډ خط دا جمله پر تخته ولیکله:

"زموږ ملت دې ژوندی وي!!"

بیا یې نو موږ ته په لاس اشاره وکړه، وې ویل:

"هلکانو! ولاړ شئ، ټول خپلو کورونه، ښوونځی وتړل شو..."

موږ چې د باندې راوتلو د ټولو تر سترګو او ښکې جاري وې، آه جار تر خپل وطن!

قربان ترخپلې ملي ژبې!!!

# د زمانې نڅا

د زمانې په لاس کې یو رباب دی چې همیشه یې ترنګوي، ددغه رباب نغمې ډېرې خوندورې دي.

ستورو په خپل مرموز انتظار او غرونو په خپل با عظمته سکوت او بحرونو په خپل دايمي خوځښت دې نغمو ته غوږ نیولی دی.

حسن او زړه راښکون يې په خپله جذبه کې هره ورځ نوې جلوه کوي.

احساسات او عواطف د آسمان د تورو او سپينو ورېځو په شان غولۍ غولۍ کېږي، موجونه وهي او بيا ورکېږي.

لمراو سپوږمۍ، ختيځ او لويديځ بادونه ورځ او شپه خپل دايمي تګلوری نه پرېږدي، مګر دا ټول ددې رباب دغږ سره سم خپل وضعيت اړوي زمانه دا رباب تل ږغوي، دپاسه غږ راځي:

"ددې له پاره چې دا نغمې ښې او زړه وړونکې شي په تېږه يې ووهه!"

زمانه هم دا رباب په سخته تېږه وهي، په دې کې درزونه کېږي او په نغمو کې يو خاص جذب او کيفيت پيدا کېږي او زمانه پرې ناځي... دا رباب: د شاعر زړه دی.

(خادم)

# زړه غواړمه

چې د غمجنو په حال سوځي هغه زړه غـــواړمه
داسې پتنګ سره يو ځای خپل سوځېده غواړمه

لږ غونـدې درد او دل سوزي د همـدردۍ دپاره
که په کوم زړه کې ځای لري ترې ځارېده غواړمه

زړونه ساړه دي زه پتنګ غوندې سور اور لټوم
دومره ساړه کور کې زه کله اوســيده غواړمـــه

د ســوز ژړا چـــې ووينـم د بلې شــمعې په مـخ
درنځـــورانـــو ســرتـــه هســـې ژړيده غــواړمه

هر سړی ګوري په ډېر شوق سپينو مخونو لـره
ســـپيرو مخو ته دخوارانو ځيرکيـده غواړمـــه

چـــې بې پروا د ګل په لور بلبلان باغ لره ځي
د دهقانانو په احوال يې خبرېـــده غـــواړمـــه

"الفت" هيچا ته بله هيله او اســـره نـــه لري
زړه لټومه هسې نه چې سپين او سره غواړمه

(ګل پاچاالفت)

سپارښتنې:

- زده کوونکي دې د پورته شعر مفهوم په وار سره په ټولګي کې وايي.

# ړوند او ګوډ

په تذکره حسين کې يې ليکلي دي چې په سمرقند کې يو ړوند شاعر و چې نوم يې "دولت" و هغه وخت چې ګوډ تيمور سمر قند ونيو نو هغه ړوند شاعر دا بيت ووايه:

آتش در شهر سمر قند بـــاد     وين تيمور لنګك چو اسپند باد

دا بيت امير تيمور ته ورسېد ، هغه دا ړوند شاعر دربار ته وغوښت او پوښتنه يې ځنې وکړه چې:

نوم دې څه دی؟

هغه ورته وويل: دولت!

تيمور وويل: دولت خو ړوند نه وي.

هغه ورته وويل: که ړوند نه وای نو د ګوډ کره به نه تلای!!

سپارښتنې:

- که زده کوونکو ته ورته کومه بله کېسه په ياد وي په تولګي کې دې ووايي.

# کاظم خان شیدا

کاظم خان شیدا د پښتوژبې د مشهور لیکوال ل افضل خان زوی او د پښتوژ بې د نامتو شاعر اشرف خان هجري لمسی او د پښتو ژبې د نومیالي پلار خوشحال خان ختټك كړوسی دی.

د (۱۱۴۰ هـ ۱۷۲۷ ع) کال په شاو خوا کې د پېښور د ختټکو د سیمې د (سرای) په "افضل آباد" کې زېږېدلی دی.

دده نیکونه او پلرونه بر سیره پر دې چې پوهان او ادیبان خلك تېر شوي دي په خپل وخت کې د قوم مشران هم وو.

څه وخت چې دده پلار افضل خان وفات شو، نو د قوم د مشر توب واګې دده مشر ورور اسد الله خان په لاس کې واخیستلې. خو څنګه چې اسد الله خان ډېر تند خویه سړی و، نو د خپلو وروڼو او خپلوانو سره یې خورا سخته او ناوړه رویه چلوله.

دده او کاظم خان تر منځ د فکر او نظر اختلاف پیدا شو او دغه اختلاف د کاظم خان حساس ماغزه نا آرامه کړل او دې ته مجبور شو چې خپل هېواد یې پرېښود.

څو کاله یې په کشمیرکې دختیځو علومو په زده کړه تېر کړل او بیا یې څه زمانه په "سرهند" کې تېره کړه په پای کې یې د "رامپور"

له پښتنو سره اړيکې ټينګې کړې هلته لاړ او د خپل ژوند زياته برخه يې د مړينې تر وخته پورې په رامپور کې تېره کړه.

شيدا د پښتو ژبې ډېر نازك خيال اودرد منـد شاعر دی او دده خوندور اشعار د پښتو ژبې ګاڼه او زيور بالـه شي. شيدا يوازې د ګل او بلبل او ښو تخيلاتو شاعر نـه دی بلکې د خپلو شاعرانه تخيلاتو سره ډېرې ګټورې ټولنيزې نکتې هم لري چې څو لاندې نمونې يې راوړوو:

۱- **صلح کل**: شيدا د صلح کل طرفدار دی او د انسان د ټولنيزې نيکمرغۍ بنسټ پر صلح کل باندې بنا بولي او په دې عقيده دی چې انسانان بايد په خپل منځ کې بې له کوم توپير څخه له يو بل سره په صلح او آرامۍ کې ژوند وکړي. دی وايي:

ځای دروغ د ليوني شه که هوښيار يې
صلح کل د ځان پيشه لکه صحرا کړه

هر چاته په ورين تندي کتل د صلح کل مهم رکن دی نو ځکه شيدا وايي:

شګفته کــــړه لکه لمر جبيـــن هــر چــاتــه
چې پــه تلــه دې سيه پوش تمـــام جهان شي

۲- **تعـاون او همـدردي**: شـيدا پـه اجتمـاعي ژونـد کـې د هـر انسان انساني فرض ګڼي چې له بل انسان سره تعاون او همدردي ولري او دخوارانو او بې وزلو دلداري او د خلکو خدمت وکړي، دی د بل د خدمت داسې توصيه کوي:

همېشه د بل په کار کې قدم ســـايه
جاريـده تـر خپل همت لکه آسيا کړه

يا دا چې:

افروختـــه يې وي محفل په شــــان د شمع
چې سوخته د بل په کار کې خپل دماغ کا

۳- **لـوړ همــت**: څنګـه چې لـوړ همت د بـاعز مـو او رښتينـو انسانانو خوی دی او خصوصاً د پښتنولۍ له پاره د پښتنوالي مهم رکن ګڼل کېږي ځکه نو د شيدا په کلام کې له هرڅه نه د لـوړ همت تاثرات ډېر ليدل کېږي.
د لوړ همت له اجزاووڅخه يو جز هم "اعتماد په نفس" يعني پر ځان باور لرل دي، دا ځکه چې بـا عزمـه انسانان تـل پـه اجتمـاعي ژونـد

کې پر خپل ځان او خپل مټ تکیه کوي او د خپل ژوند ډېر سپك بارهم د بل پر اوږو نه ږدي او نه د بل په واسطه ځان لوړ وي.

دا مطلب شیدا په داسې شاعرانه الفاظو کې وایي:

د آفتاب په کمندنه خیژم آسمان ته

نه ږدم بار لکه شبنم په دوش د ګلو

تا سې ځیر شئ د شیدا اعتماد په نفس داسې حد ته رسېدلی دی چې که د شبنم غوندې سپك بار هم د بل پر اوږو راځي دی د آسمان په ختلو هم خوښ او راضي نه دی.

۴- **سخاوت**: شیدا په ټولنیزژوند کې د ښښنې او سخا طرفدار او له حرص، بخل او شومتیا څخه بیزار دی.

برګ وبار ورته پیشکش لکه بهار کړه

که خزان راشي کریمــه ســتا تر کوره

شـیدا سـخاوت دهمتنــاکو خلکـو کـار بـولي او پـه دې لاره کـې دومـره انتها پسند دی چې دسر په ښندنه هم پروا دار نه دی، او د دار لرګی یې هم نه پیرزو کېږي چې د همتناك سړي نه محروم پاته شي، وایي:

چېرې نه چې دار محروم په میدان پرېږدې
که یو سـر پـه تـن لـرې بلنـد همـتـه!

۵- **بخل**: بخل ته هم په بد نظر ګوري او د بخیل سړي له دوډۍ څخه بیزاره دی لکه چې وایي:

پـه مسـکه یې شـیدا مشـه لقمـه تـره
چې جبین یې مدام ترش په شان د دوغ دی

٦- **رښتیـا**: شـیدا پـه ټـولنیز ژونـد کـې دربنتیـا او رښتینـو انسانانو طرفدار دی وایي:

چې دې مخ لکه د صبح صادق سپین وي
په هر کار کې له عـالم سـره رښتیا کړه

۷- **وفـا**: د ملګرتیا په لاره کې که هر څه مشکلات پیدا شي شیدا د وفا ملګری دی او بل ته هم دا توصیه کوي:

سایه وار متحمل د سنګ وخار شه
چې په لار د رفاقت درومي وفا کـا

بل ځای د وفا په سبب پر خار باندې داسې مین دی چې وایي:

چې له ښاخ سره وفا کا په سره اور کې
لاتـر ګلـه یـم میـن د ګـل پـه خـار زه

**۸- وعده**: د وعدې پر ځای کولو په لاره کې شیدا تر سر هم تېر دی او دا د رښتینو مردانو خوی ګڼي لکه چې وایي:

که یې سرځي لکه شـمع یك زبان وي
خلاف نه کا د خپل قول چې مردان وي

**۹- انسان پېژندنه**: شیدا د احسان شناسۍ داسې لارښوونه کوي:

د دسـتار په شان یې تل تر سر جاربېږه
هر سړی چې په تندي کېږدي ستـا بار

**۱۰- مېړنی**: د حقیقي مردانو او مېړنو اوصاف داسې بیانوي:

مردان هغه دي چې شرم و ننګ لري
کشاده چنـــګ رای و فرهنــګ لري
پـــه بزم ورزم بانـــدې چـــې راشـــي
د توتـــــي ژبــــه زړه د پلنــګ لـــري

**۱۱- نامرد**: شیدا د نا مرد په اړه داسې وایي:

سترګې نه سوځي د خس له نامردانو
که همه لکـــــه ایــرې آتش نسب وي

۱۲- **ويل او کول**: شیدا یوازې دویلو طرفدار نه دی بلکې دی له وینا سره کردارهم لازم ګڼي او وایي:

په ګفتـــار به انســـان نشي کــردار بویه
توتي کله شو انسان په خوش خوانۍ کې

۱۳- **طلب**: شیدا پـه ټولنیز ژونـد کې غوښتنه او کوشش د کامیابۍ مهم اساس بولي او دا مطلب په داسې شاعرانه تخیل کې څرګندوي:

حرکت نه کړي له خپله ځـــایه | له ماهي زده کړه طـــلب خود رایه
که په کې مات شي هزار خـــارونه | په سینه ځکېږي بې دست وپـــا یه

وایي:

د طلب په لار افتـــان و خیـــزان درومه
که دې لاروي لکه موج په سیلاب کې

**دیـوان**: د کاظم خان شیدا دیـوان لکـه دی چې پـه خپلـه د دیـوان پـه مقدمـه کـې لیکـي پـه یـوزر، یـو سل او یـو اتیـا (۱۱۸۱ هجري) کال له ترتیبه خلاص شوی دی.

# کار او زیار

نن په دنیا کې د مترقي ژوندون بنسټ پر کار او زیار ولاړ دی، او دا چې د جهان مترقي هېوادونه پر مخ تللي، او د ترقۍ لوړو پوړیو ته رسېدلي دي دا ټول د کا راو زیار نتیجه ده، ځکه نو په دنیا کې کار کوونکي او زیار کښ انسانان د پرمخ تللو ملتو دښه ژوند جوړونکي باله شي.

څنګه چې بیکاره او بې زیاره ژوند تل خوار، بې واکه، او بې خونده وي. همدا شان هغه ولسونه چې کارګر او زیار کښ خلك نه لري تله یې سپکه، ټیټه، وروسته پاته او د نورو لاسو ته اړوي.

د ویښې دنیا انسانان خولاله پخوا زمانو څخه د کار او زیار په حقیقي مفهوم او اهمیت پوهیدلي دي او زیار یې ایستلی دی چې د کار دپاره مساعده زمینه برابره کړي.

دویښې دنیا یو پوه وایي: ددې له پاره چې دټولنې حق ادا کړو، یوازې د کار په وسیله دغه حق ادا کېدای شي.

په دې بنسټ نو په یوه صالحه ټولنه کې باید ټول د ټولو دپاره کار وکړي، که دا کار په بدني فعالیت اړه ولري او یا په فکراو ذهن.

ژان ژورس یو غربي پوهاند په خپل کتاب کې چې "نوی لښکر" نومېږي لیکي چې: "هېڅکله تردې بله شریفه هیله پیدا کېدای نه شي ترڅو چې یوه داسې ټولنه منځ ته رانشي چې هلته یوازې کار حکمراني وکړي نه زر او استثمار"

بل فیلسوف وایي:

"فلاسفه وو ددې دنیا راز راز تعبیرونه کړي دي. خو اصلي موخه داده چې دې جهان ته یو ډول تغیر او بدلون ورکړی شي، او دا دکار او زیار په اثر کېدای شي."

سقراط ویلي دي چې: "کار د نیکمرغۍ چینه ده."

د اسلام لار ښوونکو عملاً د کار او زیار اهمیت مسلمانانو ته ښودلی دی حتی حضرت محمد ﷺ خو، د کارګر هغه لاسونه چې په کار کې تڼاکې شوې وي د مچولو وړ بولي، او کاسب ته د خدای(ج) دوست وایي.

حضرت عمر رضي الله عنه د بیکاره سړي دماغ د شیطان کور ګڼي، ځکه نو په بازارو کې ګرزېده، او بیکاره خلك به یې کارته ور بلل، او ویل به یې:

"زه هر چاته د احترام په سترګه ګورم، مګردا چې ماته وویل شي چې یو سړی کا راو مسلك نه لري د هغه احترام زما په نزد کمېږي"

حضرت علی ﷺ ویلي دي چې:"که له تاسې څخه یو څوك رسۍ واخلي، لرګي ټول کړي، او پر خپلو اوږو یې بازار ته یوسي خرڅ یې کړي چې خپل شرف او آبرو وساتي، تر هغه سړي ډېر ښه دی چې بیکاره ګرځي او ګدایي کوي"

په دې ډول د شرق او غرب ډېرو پوهانو او د بشر لارښوونکو په ژوند کې د کار او زیار ارزښت په بیلابیلو وختوکې په بیلابیلو عباراتو څرګند کړی دی او هغه ولسونه چې د خپلو ملي لارښوونکو په ښوونه ویښ شوي دي او دکار او زیار خواته یې هڅه کړې ده هغه د تمدن لوړوپوړیو ته رسیدلي دي، او دساینس دا نننی حیرانوونکی بری د همدې کار او زیارپایله ده.

دا زمونږ ملي او انساني فریضه ده چې کار او زیار ته په درنه سترګه وګورو، په ارزښت یې پوه شو، او د ښه ژوند په آرزو کار وکړو او زیار وباسو!!

# د دغه کتاب ځينې لغتونه

دلته ددې کتاب ځينې هغه لغتونه له تشريح سره راوړل شوي چې لږ څه مشکل په نظر راغلي دي. خو د لغتونو ترتيب د مضامينو د سرليکونو په ترتيب دی، يعنې لومړی د هر مضمون سرليک‌د سرليک په بڼه راوړل کېږي او بيا د هغه مضمون لغتونه له تشريح سره ليکل کېږي.

نو له ګرانو زده کوونکو څخه هيله کېږي که په کوم مضمون کې کوم لغت ورته مشکل ښکاره شي دهغه مضمون تر سرليک لاندې دې وګوري:

## نوی کال- نوی لوست

| | |
|---|---|
| پرانيستې غېږ | خلاصه غېږ |
| ببره: | تعجيل- توندي |
| هينداره | آئينه |

## درنا په څرک پسې

| | |
|---|---|
| څرك | سراغ- درك |
| دربيله | توره در بيله- ډېره تياره- توره تياره |
| ګوټ | څنګ، کونج |

## رحمان بابا

| | |
|---|---|
| پالنګ | يو ډول چپر کټ دی |
| پيړۍ | څوکۍ- کرسۍ- تخت |
| پلو | طرف- خوا- او هم د ښځې د پوړني يوه څوکه يا يو لوری. |
| څپر: | د تشبيه توری دی شکل،بڼه |
| غوڅ | قطع، پرې |

### د میرویس نیکه وینا

| | |
|---|---|
| جغ | يوغ،ځغ |
| ډاډه | مطمئن- او "ډاډ" د اطمينان په معنا دی. |
| بری | فتح، سوبه |
| سپمول | دريغول |
| هرومرو | حتماً، خامخا |

## د علم هنر

ځاروی　　ژوی،حیوان،

ورمېږ　　مغزی- ګردن، څټ

## د کوهستان شفق

تیکی　　د تورې یاچړې پوښ- غلاف

## پښتو د پخوانیو شاهانو په دربارو کې

کروړ　　محکم- سخت، نه ماتیدونکی

مندیش،بالشتان، خیسار، تمران او بر کوشك:　　د ځایو نومونه دي.

کوټ　　کلا

ځېر　　لکه ، په شان

ویاړ نه　　افتخار

نړۍ　　جهان- دنیا

اتل　　پهلوان- قهرمان

کوکار　　فغان

| | |
|---|---|
| زمولول | مړاوی کول |
| ستاینه | صفت |
| ښکلونکی | آرایش کوونکی، سینګارونکی |
| لونل | پاشل ، شیندل |
| هستوګنه | اوسیدنه |
| یرغل | حمله |
| مل | رفیق، ملګری |
| ملا | کمر |
| دښن | د "دښمن" مخفف دی. |
| کویله | دیوه مرغه نوم دی. |
| خول | تاج |
| مواس | محافظ- ساتونکی- حامي |
| سمدستي | فوري |
| ورکړه | داد ، سخا |
| ستر | لوی |
| بوخت | مشغول |

ډګر		میدان

کاږل		کښل- لیکل

نامتو		پیژندل شوی (مشهور)

## شمس النهار

ځل		نوبت ، وار

پته		آدرس

## نازو انا

ساری		سیال

ارتینه		مېرمن، ښځه، ماندینه

تاړاك		تاراج، تالا، چور، ناخوالې

کوسان		د هرات د لمر لوېدو خواته د هریرو د پرغاړه د یوځای نوم دی.

لیمه		دیده، سترګې

## ارشاد النسوان

وږی		خوشه

## مین او شاعر

| | |
|---|---|
| سرتور | لوڅ سر |
| یبلې پښې | لوڅې پښې |

## پیر روښان

| | |
|---|---|
| کړۍ | حلقه |
| زغملای | مصدر یې زغمل او معنا یې تحمل کول دی. |
| پاڅول | تحریك کول، درول |

## د یتیم آرزو

| | |
|---|---|
| پیل | شروع |
| له بده مرغه | متاسفانه، له بده بخته |
| لستوڼی | آستین |

## زرغونه انا

| | |
|---|---|
| پوپنا | بیخي تباه، نابود، محوه |

## پیسې سېځل

| | |
|---|---|
| ورین تندی | پراخه تندی |
| هر کلی | ښه راغلاست |
| مسل | تبسم |

## وروستی لوست

| | |
|---|---|
| ګهیځ | سهار |
| خواشینی | خپه |
| چوغکه | چڼچڼه |
| بوڼ | د مچ آواز- بنګس |

## د زمانې نڅا

| | |
|---|---|
| ترنګول | غړول |
| تیره | ډېره |

## زړه غواړمه

| | |
|---|---|
| ځیر | دقیق |
| اسره | امید |

د نشه يي توکو پرضد د مبارزي وزارت

## مخدره توکي ستاسې کورنۍ او
## ټولنې ته ضرر رسوي.

نیشه تاسو د همزولو له سیالۍ څخه پاتې کوي او
کورنۍ مو له بد مرغۍ سره مخ کوي، ځان ترې وساتئ!

له نیشو سره مرګوني مرضونه ملګري دي لکه : ایډز،
زیړی او داسي نور.